

Ketabton.com

# د ابن خلدون د مقدمې لنډيز

**ليکوال:** محمد عواد

**ژباړه او ترتيب:** فاتح صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د علم او تمدن په زړه کې د تل پاتې انسان ... ابن خلدون روح ته!

د هغه ښځې روح ته چې زه یې لوی کړم او له ما څخه یې شخصیت جوړ کړ ... زما مور!

له الله ج څخه غواړم چې هغې ته د دې ښکلي کتاب اجر ورکړي.

هغه سړي ته چې خپل ټول ژوند یې په بهر کې تیر کړ ترڅو د هغه کورنۍ ښه ژوند وکړي ... زما پلار ته!

هغه ملګرو ته چې ماته انرژي راکوي او د لا زیاتو هڅو لپاره مې هڅوي... زما د فیسبوک صفحې مینه والو ته!

دا ساده لنډیز تاسې ته وړاندې کوم او هیله لرم چې ټول لوستونکي ترې ګټه واخلي؛ آن که ډیر کم معلومات هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ابن خلدون د مقدمې لنډیز

دا د عربو له لورې د پرېښودل شوي علم د خپرید په موخه د "تأملات" وېبپاڼې له لورې یوه هڅه ده چې په مستقیمه توګه یې د اوسني تمدن په جوړښت کې خپله ونډه درلودلې ده.

**یادونه:** دا لنډیز هېڅکله د متخصصینو یا په مقدمه کې وړاندې شوې پراخې پوهې د مینه والو لپاره د اصلي کتاب د لوستلو بدیل نه دی. کله چې موږ په "تأملات" پریکړه وکړه چې دا ارزښتمن کتاب خلاصه کړو، زموږ هڅه دا وه چې په دې کتاب کې د مهمو معلوماتو بنسټ پراخه کړو او ځوانان وهڅوو ترڅو په مختلفو برخو کې خپل فکرونه او پوهه پراخه کړي، او دوی ته زموږ د تلپاتې عربي تمدن یادونه وکړو، هغه تمدن چې تر نن ورځې یې مستقیم اغېز او ونډه په ځانګړي ډول په ټولنپوهنې او د تاریخ علومو په برخه کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لنډيز سريزه

عبدالرحمن بن محمد بن خلدون، حضرمي الاصله، په ۱۳۳۲ ميلادي کال کې زيږيدلی او په ۱۴۰۶ ميلادي کال کې وفات شوی دی. هغه په عربو کې د "ابو علم الاجتماع" (د ټولنپوهنې پلار) په نوم پيژندل کيږي. هغه څه چې د هغه د شخصيت په وده کې يې مرسته کړې، په داسې کورنۍ کې زيږيدل وو چې د منصب او مسووليت خاونده وه، او همدارنګه دا د پوهې، کلتور او فکر کورنۍ وه چې هغه يې د سياست او ټولنپوهنې په علومو کې لا زيات تخصص ته ورساوه.

د ابن خلدون کورنۍ په اندلس کې د اسلامي دولت له سقوط وروسته کډواله شوه، چې د ې حالت د هغه په فکر او ليدلوري ژور اغېز وکړ، ځکه يې خپل ټول پام د ټولنو او تمدنونو د زوال تشريح کولو لور ته واړاوه.

هغه د خپل ژوند ډېره برخه په تونس کې تېره کړه او د خپلې مقدمې لومړنۍ کلمې يې په الجزاير کې  وليکلی، وړاندې له دې چې په تونس او مراکش کې يې بشپړه کړي، چيرې چې هغه د ځمکې پر مخ لومړني پوهنتون القرويين کې د ښوونکي په توګه کار کاوه. هغه په مصر کې وفات شو او هلته د صوفيانو په يوه هديره کې ښخ شو (رحمه الله).

د دې لنډيز له لوستلو وړاندې هغه څه چې بايد د ابن خلدون په اړه پرې پوه شو، دا دي چې هغه د ډيری خلکو له لورې د تاريخ د علم د نوو اصولو بنسټ ايښودونکی شمېرل کيږي، ځکه چې هغه يو له لومړنيو هغو کسانو څخه وو چې تاريخ ته يې په فلسفي (يا غير داستاني) ليد وکتل، چې له امله يې ډيری غربي علماوو د هغه وړتيا منلې او هغه يې د تاريخ د علم د عصري قواعدو او اصولو د بنسټ ايښودونکي په توګه پيژندلی دی.

### د ابن خلدون په اړه د غربي علماوو نظريات

موږ لاندې نظريات له عربي ويکيپېډيا څخه  را نقل کړي دي:

- **ارنولد ټوينبي(مشهور غربي مؤرخ):** ابن خلدون د تاريخ د فلسفې بنسټ ايښودونکی دی، له شک پرته دا علم د هغو علومو له جملې څخه يو دی چې په بېلابېلو زمانو کې انساني عقل رامنځته کړي دي.
- **جورج مارسيز:** د ابن خلدون اثر (تاريخ ابن خلدون او مقدمه يې) يو له هغو مهمو آثارو څخه دی چې د انساني فکر له لورې توليد شوي دي .
- **ايف لاکوسټ:** د ابن خلدون اثر د علم په توګه د «تاريخ» د ظهور نمايندګي کوي، او د عربي معجزې (عربو چې کوم علوم رامنځته کړي) په لړ کې يو شاهکار دی.
- **ولاديمير لينن:** آيا په شرق کې د دې فيلسوف په څېر نور نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- **روجیه جارودي(د فرانس یو مسلمان فیلسوف):** له هغه ځایه چې د ټولنو د جوړښت او تکامل په اړه څیړنه کیږي، په دې برخه کې تر ټولو مخکښ شخص ابن خلدون دی. یو عالم، هنرمند، جنګیالی، فقیه او فیلسوف چې د څوارلسمې پیړۍ راهیسې یې د نبوغ او عبقریت په ډګر کې د اروپا د رنسانس د سترو شخصیتونو سره سیالي کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لنډيز ميتود**

مقدمه په شپږو بابونو ويشل شوې ده، چې هر يو يې څو فصلونه لري. په دې ځای کې زموږ موخه لنډيز دی، نه دا چې تشريح يا توضيح ورکړو، ځکه چې زموږ هڅه دا ده چې د دې سرې ډېر زيات افکار په لږو پاڼو کې وړاندې کړو. دا لنډيز به د بابونو په کچه سرليکونه ولري، مگر موږ د فصلونو سرليکونه نه ذکر کوو. هر هغه څه چې موږ يې اړين گڼو د لوستونکي په واک کې ورکړو، په داسې حال کې چې دا منو چې د ابن خلدون د مقدمې په څېر ارزښتناک کتاب او د پوهې خزانه په دومره لږ شمير پاڼو کې په هر اړخيز لنډيز وړاندې کول نا ممکن دي. په هرصورت، موږ هڅه کوو چې د يوويشتمې پېړۍ لوستونکي ته هغه څه وړاندې کړو چې اهميت ورته لري.

**هغه کسانو ته زموږ مشوره چې غواړي کتاب ولولي**

گرانو لوستونکو، تاسې کلونه انتظار کړی دی چې پوه شئ چې په دې مقدمه کې څه دي، او موږ له تاسو څخه غوښتنه کوو چې تر يوې بلې اونۍ پورې نور هم انتظار وکړئ ترڅو (په دې يوه اونۍ کې) د دې لنډيز لوستل پای ته ورسوئ. موږ غواړو چې تاسو هره ورځ يوازې د يو باب (لنډيز) ولولئ او وروسته يې په هماغه ورځ بيا ولولئ، ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسې د دې باب په لنډيز کې مطرح شوي افکار او علوم په بشپړ ډول درک کړي او پرې پوهېدلي ياست. (او کله چې د مخکني باب په لنډيز د پوهې څخه په بشپړ ډول ډاډمن شوئ) بيا په بله ورځ دوهم باب ته ولاړ شئ. وروسته له دې چې تاسې په دې ډول لوستل پای ته ورسوئ، په اوومه ورځ په لنډ ډول يو ځل بشپړ لنډيز ولولئ ترڅو هغه خورا مهمې سپارښتنې په ياد ولرئ چې ابن خلدون د بشري تمدن په اړه وړاندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی باب: د بشري تمدن په اړه

په دې باب کې لاندې افکار راغلي دي:

**د انسانانو تر منځ همکاري اړینه ده**

د ټولنې په شکل د انسانانو ژوند او په خپلو منځونو کې همکاري یوه ډېره شدیده اړتیا ده، داسې یوه اړتیا چې هیڅوک ترې انکار نه شي کولی، او دا ځکه چې د انسانانو د پاینبت بنسټ خواړه دي، او دا خواړه په یو فرد تکیه کولو سره نشي ترلاسه کیدلی، چې دا چاره د انسانانو لپاره د ټولنې په شکل کې ژوند یو حتمي حالت ګرځوي. او څوک چې غواړي له دې حتمي حالت څخه انحراف وکړي، دا کار به ترې یو داسې کس جوړوي چې یقیناً د انساني طبیعت څخه بهر وي، او د دې په پایله کې به پر دې کس (چې د ټولنیز ژوند څخه انحراف کوي) داسې رواني اغېزې وکړي چې ارواپوهان او د شخصیت شنونکي یې په اړه خبرداری ورکوي.

ابن خلدون ټینګار کوي چې دا حقیقت موږ ته را په ګوته کوي چې ځینې حیوانات په دې اړه د انسانانو په پرتله پیاوړي دي ځکه چې ځینې یې د خپل طبیعت له امله د یوازې ژوند کولو توان لري، او دا ځکه چې هغوی خپل خواړه او امنیت په خپلواکه توګه ترلاسه کولی شي. په هرصورت، د انسانانو دا کمزوري په حقیقت کې یو واقعي ځواک دی، ځکه چې دوی د همدې کمزورۍ په پایله کې یو د بل سره همکارۍ ته اړ شوي دي، چې همدا (یو د بل سره همکاري بیا) د ځمکې د ابادۍ، د تمدنونو د رامنځته کیدو او د پیړیو په اوږدو کې د نورو مخلوقاتو په پرتله د انساني نسل د روښانه پرمختګ بنسټ وو.

**شمال پر جنوب برتري لري**

ابن خلدون په ځینو سیمو کې د پرمختللو تمدنونو او ښاري کیدو ظهور او په نورو کې د دې نه شتون ته د تودوخې درجې سره تړاو ورکوي. هغه باور درلود چې هغه سیمې چې لوړه تودوخه لري د وچکالۍ سره ډیرې مخ دي او د آبادۍ لپاره لږ فرصت لري، په داسې حال کې چې نسبتاً سړې سیمې په عمومي توګه د ژوند او تولید او په ځانګړې توګه د خوړو د تولید لپاره غوره چاپیریال لري، مګر په خورا سړو سیمو کې هم ژوند ستونزمن دی ځکه چې هلته د خوړو تولید ستونزمن دی.

د دې طرحې په پایله کې موږ درک کوو چې ابن خلدون په عمده توګه په ټولنو کې د پرمختګ د څرخ د دوران لپاره په هره ټولنه کې د خوړو په موجودیت او هغې ته په لاسرسي او د خوړو په تولید کې د اقلیم په مستقیم رول تر هر څه زیات ټینګار کوه، ځکه اقلیم د خوړو په تولید مستقیمه اغېزه لري. دا خبره نن ورځ هم صدق کوي، ځکه چې نن

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د نړۍ مخکښ هیوادونه هماغه هېوادونه دي چې د خوړو له پلوه پر ځان بسیا  او د کال په اوږدو کې (په اوسط ډول) معتدل اقلیم لري، چې په ژمي کې یخني او په دوبي کې لمر لري.

**ابن خلدون او نړیواله تودوخه**

که چیرې ابن خلدون زموږ په وخت کې ژوندی وای، هغه به د نړیوالې تودوخې او نړیوال اقلیم د بدلونونو په اړه تر ټولو ډیر اندیښمن وای. هغه باور درلود چې جغرافیې او اقلیم د ملتونو د تاریخ په اوږدو کې د تمدنونو په رامنځته کولو کې عمده رول درلود. له همدې امله، زموږ وزیران چې په خپلو دفترونو کې ناست دي باید دا ټکی درک کړي او هڅه وکړي چې پوه شي د دې په پایله کې څه پیښیږي او یا څه پیښېدلی شي.

ابن خلدون په لومړي باب کې څو ځله په څرګنده توګه د تودوخې د دوامداره زیاتوالي د خطر په اړه خبرداری ورکړی وو، چې په ناڅاپي ډول د خوړو د کمښت لامل کیدلای شي، چې همدا د خوړو دا کمښت بیا د بشري تمدن د زوال او د لویو جګړو لامل کیدلای شي.

**د هوا حالات او د انسانانو  اخلاق**

ابن خلدون په دې باور وو چې په یوه هیواد کې د هوا د حالاتو او د هغې سیمې د خلکو د اخلاقو ترمنځ مستقیمه اړیکه شتون لري. هغه د بیلګې په توګه یادونه کړې چې د سړو هیوادونو خلک د ګرمو یا سمندر ته د نږدې سیمو خلکو برعکس، د راتلونکي لپاره پلان جوړولو او د بدو پایلو څخه ویره لري. د سړو هیوادونو خلک د هوا له بدلون او د خوړو د کمښت څخه ویره لري، نو له دې پلوه هغوی ډیر محتاط بریښي او په دې اړه ډېر فکر کوي، دا حالت تر نن ورځې پورې پر خپل حال پاتې دی او ښایي چې دوی ته دا ذهنیت په میراث پاتې وي. د اروپا ډیری اوسیدونکي د راتلونکي لپاره پلان جوړوي او پایلې یې محاسبه کوي.

دا موضوع زموږ په وخت کې په علمي توګه ثابته شوې ده چې د یوې ځانګړې موضوع په اړه د یو شخص د فکر کولو طریقه په نورو ټولو چارو کې د هغه د ذهن رنګ اخلي. د بیلګې په توګه، یو قمار باز د خپل طبیعت له مخې باجرأته، زړور او بې صبره دی، په داسې حال کې چې شپون خورا صبرناک دی او په اسانۍ سره نه غوسه کیږي. دا د دې لامل کیږي چې د خوړو یا هوا او د هغې سره د چلند ډول د خلکو په اخلاقو مستقیمه اغیزه وکړي.

**بیوزلي او دینداري**

پرته له دې چې موږ د کوم دین په اړه بحث وکړو، ابن خلدون د هغه حقیقت په یادولو کې شرم نه کاوه چې ځینې خلک یې د دینداری په اړه د ردولو هڅه کوي. هغه ولیدل چې د غریبو سیمو خلک ډیر دینداره دي، په داسې حال کې چې د ښاري سیمو اوسیدونکو دینداري د دوی د ژوند شرایطو سره سمه بدلیږي. هرکله چې شرایط ښه شي، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورو چې غفلت غالبيږي، له بل پلوه هرکله چې شرايط خراب شي، خلک بیرته خپل رب ته رجوع کوي او له هغه څخه د رحمت غوښتنه کوي.

د ابن خلدون خبرې د دې ښکلې وينا سره مخالفت نه لري چې وايي: (کله چې غربت يو هيواد ته ځي، کفر ورته وايي، "زما انتظار وکړه."). د غربت له امله رامنځته شوې دينداري يوازې د عبادت او وينا پورې محدوده او يوه ظاهري (غير حقيقي) دينداري ده، په داسې حال کې چې داسې ديندراه ممکن په عمل کې د ژوند او رزق او روزي د خوندي ساتلو لپاره له سمې لارې څخه انحراف وکړي. له همدې امله ځينې غريبان چې د خپل ژوند سخت شرايط نه شي زغملی، د کافرانو په څير ناروا چلندونو ته مخه کوي، لکه څرنګه چې د عربو په تاريخ کې د صعاليکو مثال د يادونې وړ دی، چې دوی به د ټولنيزې بې عدالتۍ د غچ اخيستلو لپاره په لارو کې خلک لوټل او په قبيلو به يې بريدونه کول.

**خواړه او د خلکو په اخلاقو يې اغېز**

عرب فيلسوف د دې نظريې ملاتړ کړی چې د خوړو ډول په اوږد مهال کې د خوړونکو په اخلاقو اغېز لري. هغه باور درلود چې هغه کوچيان چې د اوښانو شيدې او غوښه خوري د زغم او صبر ځانګړتياوې، او همدارنګه د درنو شيانو د وړلو وړتيا لري.

پوهان لا هم په دې ټکي بحث کوي؛ ځينې وايي چې غوښه خوړونکي ډېر تيري کوونکي وي، په داسې حال کې چې سبزي خوړونکي سوله ايز او آرام وي. ډيری علماء پر هغو کسانو د هغو ځانګړو څارويو د طبيعت اغېزې ردوي چې دوی يې غوښې خوري او باور لري چې د دې اغېزو لامل د هغو غذايي ترکيبونو له امله دی چې د مغز پر فعاليت اغيزه کوي او د فشار يا آرامتيا لامل کيږي. که د ځانګړو حيواناتو د غوښو خوړل په خوړونکو باندې مستقيمې اغېزې درلودی نو زمريان به د هوسيو د دومره غوښو په خوړلو سره په هوسيو بدل شوي وو.

**الهي کرامت**

ابن خلدون د معجزو په موضوع هم بحث کړی او د بېلابېلو عقيدوي مذهبونو نظرونه يې په دې اړه وړاندې کړي دي، چې دا څرګندوي چې ځينې خلک په ټوله کې کرامات ردوي او د خارق العاده شيانو څرګندېدل يوازې پيغمبرانو پورې محدود ګڼي، په داسې حال کې چې نور يې د اولياو لپاره هم ثابتوي که څه هم دا نېکان خلک په نيکۍ شهرت هم ونه لري او د هغه کسانو په ډله کې نه وي چې د خلکو له لورې ورته درناوی کيږي. د دې مفکر (ابن خلدون) په اړه ښکلې ټکی دا دی چې هغه دا موضوع لوستونکو ته پريښودې ده چې د اسلامي فکري مکتبونو له نظرونو څخه هغه نظر غوره کړي چې هغوی ته د منلو وړ وي، ځکه چې د معجزو په شتون يا نه شتون د عقيدې موضوع د اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بنسټونو یا ارکانو څخه نه ده، او دا سمه نه ده چې په دې اړه دومره ټینګار وکړو چې نور خلک مجبور کړو چې خامخا زموږ نظر ومني.

هغه څه چې پوهیدل پرې اړین دي، دا دي چې ابن خلدون په دې اړه د بېلابېلو عقیدوي مذهبونو د نظرونو په وړاندې کولو کې بې طرفه وو. هغه څه چې خورا مهم دي، دا دي چې موږ د ابن خلدون له مقدمې څخه دا زده کوو چې په تیرو وختونو کې د مذهبي نظرونو تر منځ اختلاف تر هغې کچې پورې د منلو وړ وو چې د دین له ارکانو څخه نه شمیرل کیده او نه هم د دې اختلاف له امله له دین څخه د یو چا د وتلو یا مرتد اعلانولو ته لاره جوړیدله، بلکې په دې اړه به یې په خپلو کې اختلاف درلود، هغه څه چې موږ په یې په اوسني وخت کې شاهدان یو.

**د انساني روح ډولونه**

ابن خلدون د انسان روح د روحاني ادراک له مخې په دریو کټګوریو ویشلی دی، دا ویش د اسلام د دین څخه د ابن خلدون د تصوفي پوهې پر بنسټ ولاړ دی.

**لومړۍ کټګوري:** هغه روح دی چې په بشپړ ډول له بدن سره تړلی دی او د بهرنۍ نړۍ سره یې اړیکې او تعامل یوازې د حواسو، تخیل او حافظې له لارې صورت نیسي، دا د عامو خلکو ارواح دي.

**دویمه کټګوري:** دا د روح هغه کتګوري ده چې په روحاني عقلانیت باندې یو څه تکیه لري او په جزوي توګه ځان له بدن څخه جلا کولی شي. دا د ابن خلدون له نظره د کاهنانو ارواح دي، او باور لري چې (د دې لپاره چې دا روح په جزوي توګه له بدن څخه جلا کېدلی او په کائناتو کې ګرځیدلی شي او له ځینو شیانو خبرېدلی شي نو) د ځینو غیبیاتو په اړه د دوی علم د بحث وړ نه دی او انکار ترې نه شي کیدلی (یعنې په یو لړ غیبیاتو باندې علم لري)، حتی که د کهانت دا کار حرام هم وي.

**دریيمه کټګوري:** دا بشپړ پاک شوي او د ډېرې لوړې کچې ارواح دي چې د محسوساتو ور هاخوا په روحاني وجود باندې په تکیه کولو کې د فرښتو د حالت سره ورته والی لري. په دې کټګورۍ کې یوازې پیغمبران قرار لري، او په روحاني وجود باندې پورته ذکر شوې تکیه هغه څه دي چې موږ یې د وحی په توګه پېژنو.

**د شهاب ثاقب په واسطه د شیطانانو د ویشتلو تشریح**

ابن خلدون دا ادعا ردوي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وروسته دې په شهاب ثاقب باندې د شیطانانو د ویشتلو له امله کهانت (د شیطانانو سره د اړیکو له لارې د غیبو خبرونه ورکول) په بشپړه توګه ختم شوی وي. هغه په دې باور وو چې دا بندیز مطلق بندیز نه وو، بلکې د پیغمبرۍ د ماموریت په اړه د اسماني خبرونو څخه د خبرتیا د مخنیوي لپاره دا بندیز لګول شوی وو، او یوازې د یوې لنډمهاله مودې لپاره یې دوام درلود تر دې چې اسلامي دعوت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټينګ او دومره قوي شو چې له ځان څخه يې د دفاع توان تر لاسه کړ( نو د شيطانانو څخه بيا دا بنديز ليرې کړای شو).

ابن خلدون په دې باور وو چې کهانت يوازې د شيطان سره د اړيکو موضوع نه ده، بلکې کاهنان يو لړ پټې وړتياوې لري چې دوی ته دا توان ورکوي چې د غيبو په ځينې موضوعاتو اطلاع ترلاسه کړي. سربيره پر دې، هغه په کلکه د کهانت په حرمت باور درلود او د دې په اړه د څرګندې اسلامي کړنلارې سره موافق وو.

**خوبونه او ابن خلدون:**

ابن خلدون د خوبونو تعبير په دې توګه کوي چې زموږ نفسونه په اصل کې روحاني موجودات دي. د دې حقيقت پر بنسټ ابن خلدون عقيده لري چې ځينې وختونه د خوب په جريان کې روح له خپل انساني مادي طبيعت سره خپله اړيکه پرې کوي، او په دې روحاني نړۍ کې چې څه دي؛ هغه مطالعه کوي، او په دې روحاني نړۍ کې د دې علم شتون لري چې په راتلونکې کې به څه پېښېږي، نو کله چې انساني روحونه له دې غيبي حقيقتونو څخه په دې توګه اطلاع تر لاسه کړي نو بيا دا موضوع موږ ته د مستقيم يا سمبوليک خوب په بڼه را څرګندېږي او په خوب کې راته راځي. د خوبونو همدا حقيقت موږ ته د دې لامل را په ګوته کوي چې خوبونه کله په بشپړه او کله په جزوي توګه رښتيا ثابتېږي (يعنې د دې لامل همدا دی چې زموږ نفسونو په روحاني نړۍ کې له دې څخه اطلاع ترلاسه کړي وي نو ځکه دا رښتيا ثابتيږي).

**يادونه:** تر دې ځايه د ابن خلدون د مقدمې د لومړي باب لنډيز پای ته رسېږي. غواړو دا روښانه کړو چې په قصدي ډول مو د يوې موضوع لنډيز پريښود چې د غيبو د علم او په دې اړه د انسان د وړتيا پورې اړه لري، ځکه چې موضوع پراخه توضيحاتو ته اړتيا لري او په مستقيم ډول د ژوند او ټولنې د موضوعاتو سره تړاو نه لري، چې موږ يې په اړه په دې لنډيز کې د لوستونکي د فکر پراختيا موخه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم باب: د بشري تمدن اصول (د " د کلیوال تمدن په اړه باب" تر سرلیک لاندې)

په دې باب کې د ابن خلدون لاندې نظریات او افکار شامل دي:

**د تمدن په رامنځته کېدو کې تسلسل:**

ابن خلدون په دې باور وو چې تمدن په تدریجي شکل رامنځته کېږي او قدم په قدم مخ ته ځي، یعنې تمدنونه په انقلابي یا ناڅاپي شکل نه رامنځته کېږي. د تمدن د رامنځته کېدو لومړی گام د بنسټیزو خوړو په خوندي کولو سره اخیستل کیږي، وروسته د جامو او کور په تهیه کولو باندې غور کېږي، وروسته د زینتي توکو او د ژوند په ټولو اړخونو کې د مبالغې تر حده پورې د مخکې تگ له لارې مخته ځي چې دا د عیش او عشرت وروستۍ مرحله ده. دا روښانه ده چې ابن خلدون یو ځل بیا ټینگار کوي چې د خوړو خوندیتوب (غذایي امنیت) د هر تمدن په رامنځته کېدو کې لومړی پړاو دی.

له همدې امله، هر هغه څوک چې غواړي یو ملت جوړ کړي باید په هیواد کې د بل هر خوندیتوب (امنیت) څخه مخکې د خوړو خوندیتوب (غذایي امنیت) په ترلاسه کولو سره پیل وکړي. که چیرې خواړه شتون ونه لري، نو تاسې نه شئ کولای چې د ژوند په کوم بل اړخ کې امنیت تامین کړئ؛ ځکه چې خلک به هڅه کوي چې د ځان لپاره له هرې لارې خواړه ترلاسه کړي ان که غیر قانوني هم وي. په خواشینۍ سره باید ووایو چې موږ د دې حقیقت له درک کولو وروسته په دې وپوهېدلو چې زموږ هیوادونه څرنگه د پرمختگ د طبیعي بهیر پر خلاف حرکت کوي؛ ځکه زموږ ډیری حکومتونه د خوړو د خوندیتوب د تامین څخه وړاندې په سیاسي او نظامي امنیت تمرکز کوي، چې دا را په گوته کوي چې ولې موږ په ډیری هیوادونو کې په یوه شیطاني کړۍ کې بند پاتې یو او ترې د وتلو هیڅ لار نه مومو.

**کلیوال وگړي د تمدن بنسټ دی او د ښار د اوسیدونکو څخه غوره دي:**

دا یو څرگند حقیقت دی چې کلیوال وگړي یوازې د بنسټیزو اړتیاوو په پوره کیدو قناعت لري او د ښار اوسیدونکي د عیش او عشرت د وسایلو د ترلاسه کولو په هڅه کې دي. همدارنگه، تاریخي حقایق ښیي چې د ښار ډیری اوسیدونکي په ټوله کې د بانډو او کلیو اصلي اوسیدونکي دي چې دا ادعا تاییدوي چې د کلیو اوسېدونکي د تمدن بنسټ تشکیلوي.

د ابن خلدون نظر دا دی چې د کلیو اوسېدنکي د ښار له اوسیدونکو څخه غوره دي، ځکه چې د کلیو اوسېدونکي اصلي انساني فطرت ډېر نږدې دي، ځکه ترڅو چې په کلیو کې اوسېږي نو د تمدن او ښاري ژوند د بدو اغېزو څخه په امن کې پاتې وي. همداراز د کلیو اوسېدونکي د ښار د اوسېدونکو په پرتله ډېر زړور هم وي ځکه چې د ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسیدونکي د خپل خوندیتوب او ساتنې لپاره په حکومت (د ابن خلدون په ژبه حاکم) اعتماد کوي، او کلیوال وګړي د امنیت په اړه پر ځان تکیه کوي او د خپل حمایت او ساتنې لپاره پر بل چا اعتماد نه کوي (چې له دې امله دوی د ښاري خلکو په پرتله ډېر زړور وي).

**حاکمان او مشران ولې همېشه د یو سپېڅلي نسب دعوه کوي؟**

په تیرو وختونو کې، قبیلو د حاکم په ټاکلو کې روښانه رول درلود. که چیرې دوی به د یو کس د نسب څخه راضي نه وو، نو دوی به د هغه پر وړاندې راپورته شول او هغه به یې له واکه لیرې کړ. په دې توګه، د عباسیانو په دوره کې یوه نوې پدېده رامنځته شوه او هغه دا چې یو شمېر خلک را پیدا شول چې ځان به یې یوې معتبرې قبیلې، یو صحابي او ان تر دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته به یې د خپل انتساب دعوه کوله. او دا کار یې د دې لپاره کوه چې د بېلابېلو قبایلو له لورې به د هغه د پیروۍ او منلو لامل کیده، او دا پدیده تر اوسه پورې نه یوازې په عربي نړۍ کې بلکې د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم ادامه لري.

د بېلابېلو قبیلو او خلکو له پلوه د دې حاکم (چې د یو سپېڅلي نسب ادعا کوي) منل د دې واکمن د شخصیت او یا د هغه د کورنۍ له امله نه وي، بلکې دا د هغه نسب احترام دی چې هغه ورته ځان منسوبوي او یا یې ادعا کوي. له همدې امله، په دې هیڅکله مه حیرانېږئ چې د درېیمې نړۍ یو واکمن ځان پیغمبر علیه السلام یا په هغه هېواد کې تېر شوي یو شریف جنګیالي یا یو لوی شخصیت ته منسوب کړي، ځکه چې دا نسبت ممکن د هغه د واکمنۍ د ثبات تر ټولو مهم عامل وي سره له دې چې هغه د دې احساس هم ونه کړي.

**په پخوانیو نسبونو باندې د افتخار کوونکو په اړه یوه غوره څرګندونه**

ابن خلدون وایي چې د یو نسب د شرافت اغېزې د څلورو نسلونو تر پای پورې په بشپړ ډول له منځه ځي. کوم اخلاقي لوړتیا او ښه چلند چې د لومړي پلار په وجود کې شتون لري، د هغه زوی یې ګوري او ممکن د خپل پلار څخه په تقلید په هغې عمل وکړي، او بیا (همدا اخلاقي لوړتیا او ښه چلند) خپل زوی ته انتقال کړي، خو په دې توګه به دا پروسه د یو څه (اخلاقیاتو) له لاسه ورکولو او د ځینو غوره اخلاقو او کړنو له هیرولو سره یو ځای وي (یعنې ځوی لمسي ته د خپل پلار ټول لوړ اخلاق او ښه چلند په عملي توګه نه شي انتقالولی، بلکې یو څه نیمګړتیا او کمی به په کې خامخا رامنځته کېږي. همدارنګه، کله چې څلورم نسل راځي نو هغه بیا (د دې لوړو اخلاقو او غوره چلند) پاتې شونې ترلاسه کوي او له دې څلورم نسل وروسته د نسب سره تړلي د لوړو اخلاقو او غوره چلند اغېز پای ته رسیږي.

د دې تصور په مطرح کولو سره ابن خلدون غواړي موږ په دې وپوهوي چې د ځینو خلکو له لورې په اوسني وخت کې د یو ځانګړي صحابي یا پیغمبر علیه السلام ته انتساب یو بې معنا کار دی. لکه څرنګه چې ابن خلدون وایي اخلاق د وینې یا جنټیکي میراث له لارې وروسته نسلونه ته نه لیږدول کیږي، بلکه وروستیو نسلونو دا اخلاق له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلرونو پسې د اقتداء او هغوی ته د بېلګې او رول ماډل په توګه د لیدلو له لارې لیږدول کیږي. او د اقتداء او رول ماډل په توګه خپلو پلرونو د لیدلو اغېز تر یو حده پورې تر ځلورم نسل پورې دوام کوي او بیا له منځه ځي، او دا هغه څه دي چې عربانو له پخوا وختونو راهیسې پرې باور درلود، په دې وخت کې په کار دا ده چې هر پلار د دې پر ځای چې د تېرې زمانې د عزت په افسانو ځان خوشحاله کړي باید د خپلو اولادونو لپاره د اخلاقو، عزت او غوره چلند نمونې په خپله وړاندې کړي تر څو راتلونکي نسلونو ور پسې اقتداء وکړي.

**د تنعم (نعمتونو) ژوند او د قبیلوي عصبیت واکمني:**

ابن خلدون دا څرګنده کړې ده چې هرکله چې قبیلوي عصبیت (د قبیلوي انتساب پر بنسټ په خپلو کې را ټولېدل او یو بل سره پر همدې بنسټ همکاري کولو ته عصبیت ویل کېږي) په یوه قبیله کې خپریږي نو وروستۍ پایله یې د واک ترلاسه کول وي. نو هغه مشران چې دا قبیلوي عصبیت تغذیه کوي او ورته وده ورکوي، دوی دې ته متوجه نه دي چې دوی بالاخره د ځان لپاره د یو دښمن په جوړولو بوخت دي چې د واک د ترلاسه کولو لیوالتیا لري او یوه ورځ به پر هغوی برلاسی شي او واکمني به یې غصب کړي.

ابن خلدون دې واکمنو قبیلو ته خبرداری ورکوي چې د ناز او نعمت ژوند او په دې کې غرق پاتې کېدل به د دوی د قبیلوي واکمنۍ د ساتنې لپاره د هغوی د ځوانانو تمرکز کمزوری کړي، او هر فرد به د خپلې خوښې سره سمې شخصي موخې ولري. د وخت په تیریدو سره د ناز او نعمت دا ژوند به د واکمنۍ د سقوط بنسټیز لامل وګرځي.

**هغه نسل چې ذلت مني، له هغه څخه هیڅ هیله مه لرئ.**

دا هغه څه دي چې د وروستیو عربي پسرلي د پاڅونونو (عربي پسرلی هغه سیاسي او ولسي پاڅونونو ته ویل کېږي چې په ۲۰۱۰-۲۰۱۲م کلونو کې په څو عربي هېوادونو کې پیل شول) په جریان کې موږ په خپلو سترګو کې ولیدل، چې د ځوان نسل له لورې پر لاره اچول شوي وو، او زوړ نسل په کې کوم مهم رول نه درلود. که څه هم موږ زوړ نسل او د هغوی تجربې ته احترام لرو، خو هغه نسل چې یو ځل ذلت ومني هیڅکله به یې د دوهم ځل لپاره رد نه کړي. لکه څرنګه چې په دې بیت کې په ساده ډول توضیح شوې ده: "هغه څوک چې ذلیل کړی شي، بیا ورته ذلالت آسانه ښکاري."

ابن خلدون د دې حقیقت د اثبات لپاره د بني اسرائیلو د واقعاتو څخه استدلال کړی دی، چې د فرعون له لورې ذلیل شوي وو او د هغه غلامان وو. سره له دې چې د سمندر د څیرې کېدلو معجزه او د فرعون ډوبېدل یې هم ولیدل، خو ذلت په دوی کې تر دې حده ژورې ریښې درلودې چې دوی فلسطین ته له ننوتلو ډډه کوله او د قرآن کریم په تعبیر دوی به ویل (إن فيها قوما جبارين و إنا لن ندخلها ما داموا فيها) په دې ځمکه کې ډېر قوي خلک دي، او ترڅو چې دوی هلته وي موږ به هیڅکله هم دې خاورې ته ور داخل نه شو، له همدې امله دوی څلوېښت کاله په دښته کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې سرنوشته ژوند سره مخ شول (چې دقرآن په تعبیر ورته تیه یا سرگردان گرځېدل ویل شوي) تر دې چې په دې ځلوېښتو کلونو کې دا موجوده نسل له منځه ولاړ چې د ذلت سره عادت وو او یو نوی نسل راغی او فلسطین ته ننوتل، ځکه چې هغوی د هغه ذلت خوی او خاصیت نه وو اخېستی چې پخوانی نسل پکې را لوی شوی وو. همدې نوي نسل په زړورتیا سره هڅه وکړه ترڅو هغه سیمو (فلسطین او شام) ته ننوځي چې اوس یې یهودیان د ځان لپاره مبارکه او مقدسه گڼي.

**مغلوب د غالب پسې ځي**

نو دا نا آشنا خبره نه ده چې موږ د هغو ملتونو تقلید کوو چې نن ورځ یې موږ ته په هرڅه کې ماتې راکړې ده. ابن خلدون دا خبره داسې تشریح کړې چې په رواني توگه انسان هغه چا ته د کامل انسان په سترگه گوري چې گټونکی او غالب وي. د ابن خلدون دا نظر د نړۍ د مشهور ناول لیکونکي جورج اوریل چې "د حیواناتو کرونده" په نوم د یو ناول لیکوال دی،  د خبرې سره سمون لري چې وایي: (فاتح او برلاسی نه ماتیدونکی ښکاري).

ابن خلدون  د دې خبرې لپاره داسې استدلال کوي چې په رواني او نفسیاتي توگه انسان د  فاتح او بر لاسي اړخ په عظمت قانع وي، ځکه چې هغه پرې برلاسي ترلاسه کړې وي، یا په دې سره ځان تېر باسي او خپله ماتې په دې توجیه کوي چې فاتح او بر لاسی اړخ نه ماتیدونکی دی، او یا دا چې هغه د کمال مرحلې ته رسېدلی دی. دا توجیه او تعبیر د یو فرد یا د یو ملت له لورې د دې لپاره وړاندې کېږي ترڅو په خپلو کمزوریو، نیمگړتیاوو او تیروتنو په اړه اعتراف کولو ته اړ نه شي او په هغې پرده واچوي.

د مغلوب له لورې د برلاسي اړخ دا تقلید او هغه پسې تگ به په جامو، وسلو او د اداره کولو په طرز او طریقو کې را څرگندېږي. ابن خلدون د دې د اثبات لپاره د ځوی او پلار مثال ورکوي چې ځوی همېشه هڅه کوي چې ځان د خپل پلار په څېر جوړ کړي ځکه د هغه عقیده دا وي چې پلار یې د کمال مرتبې ته رسېدلی دی.

**هغه ملت به خامخا له منځه ځي چې د نورو تر واک لاندې وي.**

ښایي دا ترټولو هغه مهم او خطرناک ټکی وي چې موږ یې باید په دې عصر کې درک کړو، هغه عصر چې عربي ملتونه په کې د دښمنانو له لورې د غلبې او برلاسۍ په حالت کې ژوند کوي. ابن خلدون د نورو تر واک لاندې ملتونو د له منځه تللو لامل دا گڼي چې دا ملتونه هیلې او امیدونه له لاسه ورکوي، او د دوی د کار او فعالیت لپاره هیڅ ډول هڅونه او تشویق شتون نه لري، ځکه چې همدا امیدونه، هیلې او هڅونې دي چې انسانان کار، تولید او ان تر دې چې د نسل زیاتوالي ته هڅوي. که چیرې د یو هېواد په وگړو سستي غالبه شي، نو د هغه هیواد خلک دومره وروسته پاتې والي ته اړ کېږي چې په پایله کې د هر حمله کونکي لپاره  آسانه موخه گرځي، او هرڅوک بیا د دوی په چارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې مداخله کوي او له دوی سره چې څه پاتې وي دا مداخله کوونکي هغه هر څه لوټوي او شپیلوي، چې په پایله کې دوی د یو ملت په توګه خپل شتون له لاسه ورکوي.

ښایي د ابن خلدون همدا نظر په اندلس کې د مسلمانانو د زوال یو سم تفسیر موږ ته را په ګوته کړي، چې د ډیرو کلونو واکمنۍ وروسته د لومړۍ ماتې نه وروسته په بشپړ ډول له منځه ولاړل. همدا راز دا موږ ته د دې تفسیر هم را په ګوته کوي چې څرنګه په جنوبي امریکا کې په یو جنګ کې د ماتې نه وروسته د امریکا اصلي اوسېدونکي «الهنود الحمر» څرنګه په بشپړ ډول له منځه ولاړل، سره له دې چې په پیل کې دوی په استعمارګرانو باندې برلاسي وو. (د دې څخه موخه دا ده چې کوم ملت خپلواکي له لاسه ورکړي هغه خامخا له منځه ځي، او دوی خپلواکي له لاسه ورکړه، ځکه یې ټغر ټول شو).

په دې اړه ابن خلدون یوه د پام وړ بیلګه وړاندې کوي او هغه دا چې د مسلمانانو په لاس د فارسیانو د دولت له سقوط وروسته سره له دې چې د دوی شمیر خورا زیات وو، او له فتحې وروسته مسلمانانو ورسره عادلانه چلند هم کاوه، او د دې اجازه یې هم درلوده چې څوک په خپل پخواني دین پاتې کېدل وغواړي نو پاتې کېدلی شي، خو له دې ټولو سره سره بیا هم کم او تیت و پرک شول. دا په دې دلالت کوي چې چې د یو ملت له منځه تلل او ختمېدل د هغه ملت د واکمنۍ د له منځه تللو سره تړاو لري، په داسې حال کې چې دا قضیه د عدالت او انصاف د شتون او نه شتون سره تړاو نه لري.

یو له هغو ښکلیو دلایلو څخه چې ابن خلدون د دې تصور د اثبات لپاره ذکر کړی دی، دا دی چې انسان په فطري توګه رهبر دی او که چیرې دا ځانګړتیا له لاسه ورکړي، نو تقریباً د خپل وجود جوهر له لاسه ورکوي او بیا د یو داسې حیوان په څېر کیږي چې یوازې د خپلو انفرادي غریزو د پوره کولو په فکر کې وي، او د خپل ژوند اصلي موخه ترې هېره شي. دا ترې هېر شي چې هغه د دې نړۍ د آبادولو او د اړینو کارونو د سرته رسولو مسوولیت پر غاړه لري، په داسې یو حالت کې ژوند کوي چې خیټه او شخصي غوښتنې یې د ژوند محور وي. دا تریخ واقعیت ډیره ترخه پایله هم لري او هغه دا چې که چیرې یو ملت د پردیو د واکمنۍ پر وړاندې له مقاومت څخه انکار وکړي او د پردیو واکمنۍ ته تسلیم شي، نو دا ملت بیا د بشپړې بربادۍ سره مخ کېږي.

**عربان او له ستونزو څخه تېښته:**

ابن خلدون په تیرو وختونو کې د عربو د جګړې طریقه تشریح کوي او وایي چې دوی هیڅکله ستونزمنې او سختې لارې نه خوښولې، نو هر ملت به چې د غرونو تر شا اوسېده له دوی څخه به خوندي وو، ځکه داسې سیمو ته رسېدل به یوازې د غرونو له لارې ممکن وو او عربانو د لوړو څوکو څخه تېرېدل او له جګړې وړاندې د ستونزو سره د مخامخ کیدلو سره لیوالتیا نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له جګړو پرته (په نورو ډګرونو کې هم) دا عقیده لا تر اوسه هم شتون لري. موږ (عربان) تر اوسه هم د هر هغه خطر څخه ځان ساتو چې ښايي موږ ور سره مخ شو. له همدې امله موږ تل ترټولو آسانه لاره غوره کوو، که څه هم زموږ لپاره یې پایلې ښې نه وي. په داسې حال کې چې د دې سره سره بیا هم پوښتنه کوو چې نور ملتونه ولې پرمختللي او موږ وروسته پاتې یو؟

**د عربو لپاره تر ټولو مناسب حکومت ديني حکومت دی:**

د دې دلیل یوازې دا دی چې موږ (عربان) وحشي جینونه لرو، او زموږ له جملې څخه هر یو د مشرتابه په لټه کې دی، هر یو خپل نظر لري او دا راته ستونزمنه ده چې د نورو سره همغږي شو. سربیره پردې، له موږ څخه هر یو جلا غوښتنې لري، د هیڅ چا غوښتنې د بل سره ورته والی نه لري، او د دوی ټولو د یووالي یوازینۍ لاره دین دی، ځکه چې احکام یې په بشپړ ډول څرګند دي او د خدای تعالی له لورې راغلي دي، هغه ستر ذات چې ډېری عربان پرې باور لري چې هغه ستر ذات دی او له هر ډول نیمګړتیا او غلطۍ څخه پاک دی.

په دې ځای کې، ابن خلدون یو ټکی ته اشاره کړې چې باید ستاینه او ساتنه یې وشي، هغه دا چې موږ عربان د تاریخ په اوږدو کې د سلیم فطرت خاوندان پاتې شوي یو، او له همدې امله موږ تل د اسلام د دین په څېر د حق دین په منلو او د بې عدالتۍ او ظلم په ردولو کې تر ټولو ګړندي پاتې شوي یو.

**د دې خبرې راز چې ولې واکمني د کلیوالو او بانډو د اوسېدونکو پرځای د ښار اوسېدونکو په لاس کې وي؟**

ابن خلدون دا په دې ډول تشریح کړې ده چې د لیرې پرتو سیمو اوسیدونکي (چې موږ د کلیو اوسېدونکي هم په کې زیاتوو) هڅه کوي چې یوازې د خپل ژوند ډېرې اړینې اړتیاوې پوره کړي، په داسې حال کې چې د ښار اوسیدونکي هڅه کوي په بانډو او کلیو کې د پیدا کېدونکو توکو د پېرېدلو له لارې د ناز او نعمت ژوند وکړي، چې په پایله کې د کلیو د اوسیدونکو ژوند د ښاریانو پورې تړلی وي، خو د ښار د خلکو ژوند بیا د کلیو او بانډو د خلکو باندې متکي نه وي. لکه څرنګه چې خواړه او ژوند د حکومت او پرمختګ لپاره بنسټ ګڼل کېږي (او دا دواړه د ښار د خلکو په لاس کې دي) نو د ښار اوسیدونکي به تل په کلیوالو او د لیرې پرتو سیمو په اوسیدونکو واکمن وي، ځکه همدوی (ښاریان) دي چې هغه مال او پیسې ورکوي چې د لیرې پرتو سیمو او د کلیو اوسیدونکي ترې د ژوند د لګښتونو د تامین په موخه ګټه اخلي. د ابن خلدون له لورې بیان شوی دا حقیقت په دې زمان کې د رد کولو وړ نه دی، ځکه چې د ښار اوسیدونکي هغه څوک دي چې په نهایت کې د خلکو خواړه کنټرولوي.

**یادونه:** په دې ځای کې د ابن خلدون د مقدمې د دوهم باب لنډیز پای ته رسیږي. غواړو ووایو چې په قصدي ډول مو د ځینو ټکو لنډیز پریښود چې د هغه په وخت کې د تطبیق وړ وو لکه د حکومتولۍ میتودونه، د هیوادونو اداره او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو ډولونه چې په اوس وخت کې شتون نه لري. له دې امله چې موږ د دې لپاره دا لنډيز کوو چې ګټه ترې واخيستل شي او ياد موارد د اوس لپاره ګټور نه وو، نو د يادو مواردو ذکر ته اړتيا نه ليدل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم باب: عمومي دولتونه، پاچاهي، خلافت او د واکمنۍ مرحلې

په دې باب کې لاندې نظریات شامل دي:

**هره نوې واکمني له ستونزو سره مخ کیږي:**

ابن خلدون دا حقیقت تشریح کړی چې هر نوی حکومت په پیل کې له ډېرو ستونزو سره مخ کیږي. هغه په تکرار سره د دې حقیقت یادونه کوي چې خلک له دې امله چې د دې نوي حکومت سره بلد نه وي، نو دې نوي واک ته تسلیمېدل ورته ستونزمن وي. خو د وخت په تیریدو سره دا واکمني د خلکو لپاره یو منل شوی حقیقت گرځي، او خلک ورسره ځان عیاروي.

په دې برخه کې، هغه د عربي نړۍ په اړه دا ټکی تشریح کړی چې هر نوی حکومتي نظام په پیل کې په خپلو خپلوانو او نږدې کسانو باور کوي، مگر وروسته له دې چې دولت ثبات ومومي، دا د حکومتولۍ له دې بڼې څخه مستغني کیږي، او بیا په حکومت کې گمارنې د اهلیت او مصلحت پر بنسټ پر مخ ځي. البته دا د ابن خلدون له زمانې وروسته د حکومت د نویو بڼو له رامنځته کېدو څخه د وړاندې وخت خبره ده، او د دې څخه زموږ موخه دیموکراتیکې یا نظامي واکمنۍ دي (یعنې دا د خپلو خپلوانو او دخپلې قبیلې د افرادو د گمارنې موضوع د هغه وخت موضوع ده چې د واکمنۍ د نوې بڼې لکه جمهوري او نظامي واکمنۍ رامنځته شوې نه وې). د دې لپاره، اوس چې دا نوی بڼې رامنځته شوې دي نو په دې کې گوند او د اردو افسرانو د خپلوانو او قبیلو ځای نیولی دی (په دې معنا چې اوس د خپلوانو او د قبیلې د افرادو د گمارنې پر ځای د گوند غړي او د اردو افسران گمارل کېږي).

**مذهبي دولتونه ډېر باثباته دي:**

ابن خلدون دا خبره پر دې بنسټ کوي چې د یو حکومت دیني بڼه او رنگ د حکومت په دننه کې د مسوولینو ترمنځ سیالي او حسد ډېرې ټیټې کچې ته را ښکته کوي. له همدې امله د دین پر بنسټ رامنځته شویو حکومتونو کې د دولت د مسوولینو (نخبه گانو) ترمنځ اختلاف ډېر کم او تر ډېره بریده یې اهداف مشترک وي. سربیره پر دې، که اهداف یې مشترک هم نه وي نو خلک مجبور وي چې په شکلي او ظاهري بڼه د اهدافو په دایره کې ځان متحد او یو موټی ښکاره کړي، لکه څرنگه چې یې موږ په دې زمانه کې په یو شمېر دیني او مذهبي نظامونو کې وینو.

خو ابن خلدون دا واضح کړی چې د هر مذهبي او دیني دولت پیل او بنسټ د مذهبي تعصب سربیره قبیلوي تعصب وي، او هغه د خپل دې نظر لپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دا خبره د دلیل په توگه وړاندې کوي چې فرمایي: « الله پاک هیڅ پیغمبر نه دی لیږلی مگر د خپل قوم په هغه معززه، محکمه او قوي کورنۍ کې». خو ابن خلدون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ترڅنګ د دې خبرداری هم ورکړی چې ځینې قبیلې یوازې د قبیلوي موخو د ترلاسه کولو لپاره له دین څخه ناوړه ګټه پورته کړي، په ځانګړې توګه هغه موخې چې د دولت او دین له موخو څخه لرې وي، چې په معاصره نړۍ کې یې موږ په یو شمیر هیوادونو کې شاهدان یو.

**افریقا ولې د تل لپاره غیر متحده او ټوټې ټوټې پاتې ده؟**

ابن خلدون چې د خپل ژوند ډېره برخه یې په شمالي افریقا کې تېره کړې ده، دا قضیه په دې ډول تشریح کړی چې هلته (په افریقا کې) ډېر قومونه او قبیلې اوسېږې چې په پایله کې یې د خلکو غوښتنې او موخې سره متفاوت او مختلف دي. په دې صورت کې که چېرې داسې یو نظام رامنځته نه شي چې دا ټول قومونه او قبیلې په خپلې غېږ کې ونیسي او د ځان سره یې روانې کړي نو دا حالت ډېر زیاتې ستونزې او مشکلات زېږوي، او داسې یو نظام (چې ټول قومونه او قبیلې استیعاب کړي) تر اوسه هم نه دی رامنځته شوی، تر اوسه هم داسې یو موحد تصور ته نه دي رسېدلي چې دا توکمیز اختلافات پالش کړي او دا بېلابېل قومونو او قبیلې د یو هدف په لور سوق کړي (نو له همدې امله افریقا په اختلافاتو کې ټوټه ټوټه پرته ده).

دلته باید دا روښانه کړو چې د توکمیز اختلاف سربیره هم که چېرته قبیلې په خپلو کې سره یووالی ولري او پر یو هدف سره را ټولې وي دا هیڅ ستونزه نه رامنځته کوي. د بېلګې په توګه د امریکا په متحده ایالاتو کې مختلف توکمیز ګروپونه شتون لري، خو دوی د جلا قبیلو په توګه ژوند نه کوي (هدف دا دی چې توکمیز اختلاف ستونزه نه ده، دا د نورو خلکو څخه د ځان د جلا کولو لپاره بنسټ ګرځول ستونزه ده) چې دا په هغه ټولنه کې د داسې اختلافاتو د نه شتون راز موږ ته تشریح کوي چې د دوی پرمختګ پر وړاندې خنډ واقع شي. دا د هغه دیموکراتیک سیستم د بریالیتوب ثبوت هم دی چې هلته یې ټول ملت ته د ټولو توکمیزو توپیرونو سره سره هم په خپلې غېږه کې ځای ورکړی دی.

**د واک له ټینګښت وروسته د پاچاهانو طبیعتونه:**

ابن خلدون پاچاهان او واکمنان په عمومي ډول په څو طبیعتونو کې مشترک بولي؛ له دې طبیعتونو څخه یو یې د واک د انحصار او د هر ډول بریاوو ځانته د منسوبولو مینه ده. هر حاکم غواړي ټول واک په خپل اختیار کې ولري، او په هېواد کې هر ډول لاسته راوړنې او پرمختګونه ځان ته منسوب کړي. د واکمنانو او حاکمانو یو بل مشترک طبیعت چې په «المقدمه» کې ذکر شوی دی د جامو او ودانیو په باب کې تجمل طلبي ده (یعنې حاکمان غواړي چې ښه پوښاکونه ولري او ډېرې ښکلې او زیاتې ودانۍ ولري). دا یو داسې طبیعت او عادت دی چې له واکمنانو څخه یې خلک کاپي کوي، او عام خلک هم د دوی په تقلید کې د پوښاک او ودانیو په اړه په تجمل طلبۍ کې اخته کېږي. په دې توګه تاسې ګورئ چې دوی د خپل واکمن او حاکم په تقلید کې د امکان تر حده هڅه کوي د تجمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلبۍ او ناز و نعمت نړۍ ته داخل شي. دریم طبیعت چې واکمنان یې د حکومت د ټینګښت څخه وروسته خپلوي هغه د ژوند څخه خوند اخیستل او په ارامۍ او سوکالۍ کې ژوند تېرول، او د سیاست او جګړې د موضوعاتو څخه ځان لیرې ساتل دي (دا خو د ابن خلدون د وخت د حاکمانو طبیعت وه، ځکه یو څوک به یې مقرر کړ چې هغه د هېواد چارې پر مخ یوسي او پادشاه، سلطان او خلیفه به په خپله په راحت او آرامۍ کې خپل ژوند ته ادامه ورکوله او د ژوند څخه به یې لذت اخېسته).

لکه څرنګه چې موږ ټولو ته معلوم دي دا طبیعتونه تر نن ورځې پورې آن په دیموکراتیکو سیستمونو کې هم دوام لري. په دیموکراتیکو سیستمو کې هم هر ولسمشر هڅه کوي چې خپل واکونه د پارلماني اکثریت له لارې پراخ کړي، او هم هڅه کوي چې واک انحصار کړي، او هر ډول عزت او عظمت د ځان پورې ځانګړی کړي، دا که د امریکا ولسمشر او یا که په نورو هیوادونو کې نور ولسمشران وي چې په هغو هېوادونو کې د ټاکنو په پایله کې د واک ادلون بدلون سره عادت وي. سربیره پردې، په ځینو هیوادونو کې په ورته توګه او په عادي شکل د دیموکراتیک سیستم اوږدمهاله دوام او پرته له دې چې واقعي بدلون ته لاره هواره کړي، ملتونه دې ته اماده کړي دي چې د سیاست او سیاسي چارو پر ځای د خپل ژوند په شخصي چارو زیات ټینګار او تمرکز وکړي (یعنې د سیاست او سیاسي چارو څخه یې مایوسه کړي دي). له همدې امله ګورو چې په دې هیوادونو کې د ولسمشرۍ لپاره په ټاکنو او همدا راز په نورو ټاکنو کې ګډون خورا ټیټې کچې ته رسېدلی دی (ځکه ولسونه له دې لارې په حقیقي تغییر باندې باور نه لري).

**له هر څه وخت وروسته د حکومتونو بدلون ولې اړین دی؟**

سره له دې چې ابن خلدون په خپل وخت کې د واک د لیږد (د ټاکنو په پایله کې د حکومت بدلون را بدلون) په مفهوم نه پوهیده (ځکه په هغه وخت کې دا ډول سیستم شتون نه درلود)، مګر هغه له دې سره داسې حقایقو ته اشاره کړې ده چې موږ دې باور لرلو ته اړ باسي چې د واک لیږد (بدلون را بدلون) د بشریت د هوساینې لپاره د تاریخ جبر دی (دلته یې هدف دا دی چې دا کار حتمي او ضروري دی، د هیګل نظریې ته اشاره نه ده) او د هر یو څه وخت څخه وروسته د حکومت بدلون د یو هیواد د پرلپسې پرمختګ بنسټ تشکیلوي.

هغه دلیلونه چې په دې اړه د ابن خلدون له مقدمې څخه څرګندېږي په لاندې ډول دي:

بدلون ځکه اړین دی چې وروسته له دې چې حاکم خپل واک ټینګ کړي، هغه د خپل شاوخوا خلکو او ملت لپاره د کار کولو په اړه لیوالتیا له لاسه ورکوي، چې دا په دولت کې د کمزورۍ لامل کیږي او د وخت په تیریدو سره هلته او دلته ستونزې را څرګندېدل پیل کېږي (نو که حکومت هر څو کاله وروسته بدل را بدل شي نو د حاکمانو په زړونو کې به د کار لپاره لیوالتیا له منځه نه ځي او د فساد او ستونزو مخه به نیول کېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څرنګه چې د اوږدې مودې لپاره په واک کې د یو حاکم پاتې کېدل د حاکم او ملت ترمنځ د پرېکون او فاصلو د رامنځته کېدو لامل ګرځي، او دا ځکه چې د زیات دوام په صورت کې د حاکمې طبقې لګښتونه د اسراف حد ته رسېږي، چې له امله یې د شتمنو (حاکمې طبقې) او غریبو (ولس) ترمنځ واټن زیاتیږي، چې دا واټن بیا په پایله کې د هیواد په ټولو سکتورونو اغېزه کوي، چې له دې اغېزې څخه اردو او پوځ هم خوندي نه پاتې کېږي او په پایله کې یې شمېر او وسایل د کمښت سره مخ کېږي.

په واکمنۍ کې په پرلپسې توګه د یو واکمن پاتې کېدل داسې غیر فعال نسلونه رامنځته کوي چې د کار کولو انګیزه به نه لري، او کله چې داسې نسلونه رامنځته شي نو د وخت په تیریدو سره په هغه هېواد کې د تولید او نوښت د کمښت لامل کیږي. دا ممکن موږ سره مرسته وکړي چې په دې پوهه شو چې د سوړ جنګ په دوران کې شوروي اتحاد ولې د امریکا سره په سیالۍ کې وروسته پاتې شو. د دې لامل دا وو چې د کمونیست ګوند د واکمنۍ د کلونو په اوږدو کې په شوروي اتحاد کې همدا ډول ذهنیت حاکم وو (د یو ذهنیت حاکم پاتې کېدل او په حکومت کې هیڅ بدلون نه رامنځته کېدل) او له همدې امله د متحده ایالاتو سره په سیالۍ کې وروسته پاتې شوو.

یادونه: مخکني ټکي په همدې تعبیر سره د ابن خلدون خبرې نه دي، بلکې په نړۍ کې د حکومتولۍ او سیاسي سیستمونو د تغییر په پام کې نیولو سره یې تعبیر شوی دی.

**یوه زرینه قاعده... هیوادونه هم د خلکو په څیر عمرونه لري:**

دا قاعده د هغو قواعدو ترمنځ تر ټولو مشهوره قاعده ده چې ابن خلدون په ټولنپوهنه او سیاست کې هم وړاندې کړې دي. د ابن خلدون د مقدمې له مخې، د یو دولت عمر د (انسانانو) د دریو نسلونو د عمر سره برابر دی، ځکه چې په عربي نړۍ کې یو نسل څلویښت کاله دوام کوي (د فرد متوسط طبیعي عمر څلویښت کاله دی)، نو دا په دې معنا شو چې د یو دولت طبیعي عمر به یو سل او شل کاله وي.

خو ابن خلدون دا نه دي ویلي چې دولت له دې عمر وروسته سمدلاسه له منځه ځي، بلکې د زیاتې کمزورۍ (د زړښت وروسته زوال) مرحلې ته منتقل کېږي، او د کمزورۍ په دې مرحله کې که چیرې پرې څوک یرغل وکړي نو د هغه لاس ته لوېږي.

په دې زمانه کې، موږ کولای شو ووایو چې د یو دولت ژوند د حکومت د بنې او سیستم په بدلون سره نوی کېدلی شي. د بیلګې په توګه، اټکل دا دی چې متحده ایالات به یوازې تر ۲۰۳۰ پورې په نړۍ واکمني ولري، او بیا به چین رامخکې شي او ځای به یې ونیسي. مګر که دا د متحده ایالاتو دولت د خپل انحصاري مالي سیستم او د بهرني سیاست په بڼه کې لږ څه بدلون راولي، نو ښایي په نړۍ د خپلې واکمنۍ دور وغځوي او په دې توګه د خپلې واکمنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند اوږد کړي، چې یقینا دا به د یو دولت په توګه د خپل ژوند غځولو معنا لري، مګر دا باید د زوال مرحلې ته له نښوتلو څخه وړاندې وشي.

موږ دلته په دې حقیقت تمرکز کول غواړو چې د یو دولت د زوال لامل د هغه عمر یا د نسلونو شمېر او تعداد نه، بلکې انساني طبیعت دی. معمولاً، د حکومت د ټینګښت د دوام په پایله کې یو سست او کم فعالیته نسل منځته راځي؛ داسې نسل چې نه نوښت لري او نه په جګړو کې زړورتیا. په دې توګه، په هیواد کې د آبادۍ او ودانۍ کارونه کمیږي او اقتصاد په پرلپسې ډول ټکانونه خوري، نو په داسې حالاتو کې نور هیوادونه له اقتصادي یا نظامي پلوه له ترې مخکې کیږي. ښایي دا څه په پوهه کې موږ سره مرسته وکړي چې موږ یې کله ناکله د ژور خفګان (Depression) او ځان وژنې او په هیواد کې د ثبات ترمنځ د اړیکې په اړه اورو. په هر ځای کې بې موخې او یا هم بې انګېزې ژوند د مرګ سره برابر دی. له همدې امله هغه خلک چې په پرمختللو هېوادونو کې بې موخې او بې انګېزې ژوند کوي نو د ژور خفګان ښکار کېږي او ځان وژنې ته لاس اچوي.

**د ژوند لوړه کچه او دولت:**

ابن خلدون په دې باور وو چې که چیرې په هیوادونو د ژوند لوړه کچه عامه وي (یعنې عام خلک یې په ناز او نعمت کې د لوړې کچې ژوند ولري) نو داسې هیوادونه به خامخا زیات ځواکمن کېږي. د د لوړې کچې ژوند تیرولو معنا دا ده چې هیواد یوې داسې ټاکلې اقتصادي کچې ته رسیدلی دی چې په پایله کې یې نفوس زیاتېږي، په روغتیایي خدماتوکې ښه والی راځي، د صنعتونه بېلابېل ډولونه رامنځته کېږي او سربیره پردې د زده کړو کچه لوړېږي او داسې نور.

زموږ په دې زمانه کې، چې ابن خلدون  ترې نه دی خبر، موږ دا وموندله چې د وسایلو له پلوه د لوړې کچې ژوند باید په سمه توګه اداره شي. که داسې ونه شي نو دا د عیش و عشرت ژوند د راتلونکو نسلونو لپاره په ویجاړوونکي ځواک بدلېدلی شي. دا ځکه چې کېدای شي د دې هوسا ژوند په پایله کې موږ ممکن داسې خلک ومومو چې نه غواړي کار وکړي ځکه چې د دوی ټولې اساسي اړتیاوې پوره دي، او دا د لوړې کچې ژوند ممکن د دښمنانو تمې ته لاره هواره کړي. دا حقیقت موږ دې ته اړ باسي چې دا نظر وړاندې کړو چې د عیش و عشرت او لوړې کچې د ژوند تر څنګ د هېواد لپاره ځواکمنه اردو او مناسبه اداره پکار ده، تر څو یې په پایله کې هېواد نور هم غښتلی شي.

د ابن خلدون د دې نظریې یوه ژوندۍ بیلګه چې په یو هېواد کې د ولسونو د لوړې کچې ژوند د دولت ځواک زیاتوي دا ده چې په ۱۹۷۰ او ۱۹۸۰ لسیزو کې د امریکایي اتباعو ترمنځ د لګښت کچه ډېره لوړه شوه، او د دې حالت په رامنځته کیدو سره، د متحده ایالاتو په ځواک کې زیاتوالی راغی او له شوروي اتحاد څخه مخکې شو. خو وروسته د تاریخ د جبر له امله په همدې حالت پاتې نه شو، ځکه یو نظام د خپل ژوند په ټول دوران کې د لوړتیا په لور په حرکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نه شي پاتې کېدلی(یعنې په یو حالت کې پورته ځي او بیا په بل حالت کې مخ په ښکته حرکت کوي، چې همدې ته د تاریخ جبر وایي).

**ولې پاچاهان د خپلو نیکونو او ولسمشران د خپلو پخوانیو تقلید کوي؟**

ابن خلدون دا حقیقت د دولت د پړاوونو له لارې تشریح کړی دی. دا د تغییر وړ پدیده نه ده، نو هغه پړاوونه چې دولت ترې د خپل عمر دوران کې تېرېږي، د ابن خلدون له نظره په لاندې ډول دي:

**لومړی پړاو:** خپله واکمني او حاکمیت پر خلکو منل او مسلط کول.

**دویم پړاو:** د چارو واګې د یو څو محدودو کسانو په لاس کې متمرکز کېدل.

**درییم پړاو:** د خپل کار پایلې تر لاسه کول او ثمرې ته رسېدل.

**څلورم پړاو:** څه چې ور پاتې دي پر هغې د قناعت مرحله او د جنجالونو څخه د ځان ساتنې مرحله.

لکه څرنګه چې د ابن خلدون په مقدمه کې یادونه شوې، په دې وروستۍ مرحله کې واکمن په هغه څه راضي وي چې د هغه لاس ته ورغلي دي، یعنې هیڅ ډول لوړې هیلې او امیدونه نه لري، نو د دې لپاره چې دا شته هم له لاسه ور نه کړي، هغه ګام په ګام د خپلو پخوانیو لار تعقیبوي. دا ډول واکمن دا ویره هم لري چې هسې نه کوم بدلون په هېواد کې د ستونزو راولاړېدو ته لاره هواره کړي. هېره دې نه وي چې دا چاره نه یوازې د دریيمې نړۍ په هېوادونو کې جریان لري، بلکې دا په پرمختللو هیوادونو کې هم شتون لري چې حاکم پکې بدلون نه مومي، د بیلګې په توګه، انګلستان (چې هلته شاهي نظام دی، او پادشاه تر مرګه پورې نه بدلېږي) له همدې امله په نړۍ کې خپل حاکمیت له لاسه ورکړ، او دا ځکه چې د انګلستان دولت او رژیم د نوښت پر ځای په هغه څه راضي پاتې شو چې پخوانیو یې کول. د دې په رڼا کې موږ کولای شو د ډیری خلکو دا خبره درک کړو چې وایي: (په راتلونکي امریکایی ولسمشر شرط مه لګوئ، هیڅ شی به بدلون ونه مومي!). یعنې هر امریکایي رئیس جمهور له هغه څه بهر نه وځي چې له پخواني رئیس جمهور څخه ورته پاتې دي، له دې امله له هغه څخه د ژور تغییر او بدلون تمه مه کوئ.

**موږ ولې حاکم ته اړتیا لرو؟**

د ابن خلدون د مقدمې له مخې، موږ د ګروپونو او ټولنو له شکل پرته خپل ژوند ته ادامه نه شو ورکولی، او که چیرې موږ دا ټولنې او ګروپونه له واکمن پرته ژوند کولو ته پرېږدو، نو په ځینو خلکو کې به د حیواناتو طبیعت فعال شي، چې په پایله کې به له دلیل پرته یو پر بل بریدونه کوي، په ناحقه به د خلکو څخه په زور او ظلم د خپل اړتیا وړ شیان اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې امله، د حاکم شتون يوه طبيعي اړتيا ده ځکه چې انسان ټولنيز طبيعت لري. ابن خلدون ټينګار کوي چې د حاکم د شتون اهميت په دې کې را خلاصه کېږي چې د هغه شتون انسان په خپلو کې يو د بل له ظلم څخه ساتي او هم هېواد د بهرنيو يرغلګرو د يرغل څخه ساتي. داسې ښکاري چې هغه په دې ځای کې موږ ته د امريکا د پخواني ولسمشر رونالډ ريګن د يوې هوښيارې وينا يادونه کوي چې هغه به ويل: «د دولت دنده دا ده چې موږ له يو بل څخه وساتي، او تېروتنه يې دا ده چې هڅه وکړي چې زموږ له خپلو ځانونو څخه موږ وساتي» (هدف يې دا دی چې موږ د خپل ځان لپاره څه غواړو په هغه کې دې مداخله نه کوي).

**ځيرکتيا په سياست کې عيب دی:**

يوه له هغو عجيبو او ښکلو موضوعاتو څخه چې ابن خلدون په خپله مقدمه کې ذکر کړې دي دا ده چې هوښيارتيا او ژوره پوهه په سياستوال کې نيمګړتيا ګڼل کيږي، ځکه حکومت نرم تعامل ته اړتيا لري او دا صفت په زيرکو خلکو کم وي، د ډېرې ځيرکتيا لږ تر لږه تاوان دا دی چې واکمن په خپلو خلکو هغه څه تحميلوي چې دوی يې نه شي درک کولی يا پرې باور نه شي کولی.

ابن خلدون د خپل دې تصور د اثبات لپاره د عمر بن الخطاب (رض) د قيصې څخه استدلال کوي، چې هغه زياد بن ابي سفيان له دندې ګوښه کړ او ورته يې وويل «ما ته د بې کفايتۍ يا خيانت له امله نه يې ګوښه کړی، مګر زه نه خوښوم چې ستا د لوړې پوهې بار په خلکو واچوم». د ابن خلدون دا نظريه موږ سره د دې په فهم کې مرسته کولی شي چې ولې په نړۍ کې يو شمېر هغه سياستوال چې ذکاوت نه لري په سياسي ډګر کې ډېر کامياب دي، خو ډېر نابغه شخصيتونه د سياست په لومړنيو مرحلو کې د ډېرو ستونزو سره مخ کېږي، او غالباً په هماغه پيل کې د سياست ميدان پرېږدي.

**د ابن خلدون له نظره د خلافت معنا:**

ابن خلدون د خلافت مفهوم چې ځينو خلکو نا سم تعبير کړی دی، سموي. هغه په ساده ډول وايي: چې خلافت د يو داسې حاکم د شتون په معنا دی چې په داسې توګه د اسلامي شريعت د پلي کولو هڅه کوي چې د انسانانو د دنيا او آخرت ګټې خوندي وساتي. د خلافت په تعريف کې، هغه د مرکزي خلافت شتون لکه څرنګه چې په اموي او عباسي دورو کې وو، شرط نه ګڼي. بلکې، هغه د حکومتولۍ په موخې او طريقې ټينګار کوي (نو که د حکومت موخه د اسلامي شريعت تطبيق وو او په هغه طريقه رامنځته شوی وو چې اسلام يې وايي نو هغه به اسلامي حکومت ګڼل کېږي، او که داسې نه وه نو هغه اسلامي حکومت نه ګڼل کېږي).

همدارنګه، هغه د ديني اصطلاح په توګه د خلافت کلمې ته هم اشاره کوي او وايي: چې دا د الله (ج) د دين په پلي کولو کې د رسول الله (ص) خلافت دی او دا د دې اصطلاح اصل دی. هغه دا رد کړه چې موږ وايو چې دا (د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی  خلافت) دی ځکه چې ډېری علماوو دا موضوع رد کړې او د دې لپاره د دوی دلیل دا دی چې الله تعالی موجود دی، او د موجود لپاره د خلیفه اړتیا شتون نه لري.

ابن خلدون د خلافت د حقیقي روح د له منځه وړلو په اړه هم خبرداری ورکړی دی. د هغه په اند په تیرو وختونو کې، ډیرو خلکو د خلافت حقیقي روح له منځه یوړ، په ښکاره یې د خپل حکومت (چې د خلافت په نوم به وو) موخه د دین څخه دفاع ښودله، خو په حقیقت کې به د هغه حکومت او نظام موخه او هدف د یوې ځانګړې کورنۍ یا قبیلې د واکمنۍ څخه دفاع کول وو. دا چاره د راشده خلافت له پای ته رسیدو راهیسې تر نن ورځې پورې په مکرر ډول روانه ده. د ابن خلدون د دې طرحې پر بنسټ موږ  ویلی شو چې د «خلافت» بیا رامنځته کول په ټوله اسلامي نړۍ باندې د یو واحد اسلامي حکومت د شتون په معنا نه دی، بلکې که چیرې هر دولت په جلا توګه په سم ډول او د متفق علیه فهم سره سم د اسلامي شریعت د پلي کولو لپاره رامنځته شي، نو دا هم د موخې له پلوه اسلامي خلافت بلل کېږي. په دې اړه دې ته اړتیا نشته چې موږ د خلافت مفهوم ډېر پېچلی او سخت کړو لکه یو شمېر پوهان او مفکرین یې چې کوي چې هغوی د خلافت د مفهوم د تحقق لپاره د مسلمانانو د یو واحد حکومت شتون شرط ګڼي.

**توره او قلم او د دولت واکمن:**

ابن خلدون وایي چې هر نوی واکمن په پیل کې د خپل حکومت د ټینګښت لپاره د هغو کسانو څخه کار اخلي چې پوځي او امنیتي ځواک لري تر څو خپل هیبت او ویره پر خلکو مسلطه کړي. له دې مرحلې وروسته بیا قلم اهمیت پیدا کوي، او د قلم خاوندان بیا تر هر چا زیات واکمن ته نږدې کېږي.

په اوسنۍ زمانه کې موږ ویلی شو چې د قلم څخه مراد هغه څوک دي چې قوانین جوړوي، رسنیز شخصیتونه مفکرین او هنرمندان د دې په مفهوم کې شامل دي. ځکه له دوی ټولو څخه هر رژیم د خپلو نظریاتو د تحمیلولو او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره که هغه عامه ګټې وي یا شخصي ګټې وي، استفاده کوي.

 پر دې بنسټ ویلی شو چې څومره چې دولت پرمختګ کوي، په هماغه کچه د مفکرینو او د قلم د خاوندانو اهمیت زیاتیږي، په داسې حال کې چې د امنیتي سیستم اهمیت په نسبي ډول کمیږي. دا په هغه صورت کې چې دولت د تمدني خنډونو پرته طبیعي پرمختګ کوي، دا کار په هغو دولتونو کې نه رامنځته کېږي چې هلته تمدني پرمختګ به ټپه ولاړ وي لکه موږ یې چې په ځینو نظامي دولتونو (چې ټول بنسټ یې په نظامي نظریه وي او د کودتا په پایله کې رامنځته شوي وي) کې ګورو چې لاهم شتون لري. دا هېوادونه اصلا منجمد او پر خپل ځای پاتې دي او هیڅ پرمختګ نه لري (چې هلته بیا د قلم د خاوندانو اهمیت له عسکري او امنیتي ځواکونو څخه زیات شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په سوداګرۍ کې د واکمن د ښکېلتیا خطر:**

واکمن معمولاً هغه څوک وي چې ځواک او پیسې په واک کې لري، او د دې په ساده ټکو کې معنا دا ده چې د هغه سره د ســوداګرۍ په هر ډګر کې ســیالي به د هغه د ســیالانو د ناکامۍ په معنا وي، ځکه د هغه پر وړاندې څوک ګټونکی کېدلی نه شي، او دا چاره دوی (د واکمن ســیالان) د ســتونزو او اندیښــنو سره لاس او ګریوان کوي، او د وخت په تیریدو سره ښـایي د دولت دښـمنان وګرځي. سربیره پردې، د واکمن  په توګه په بازار کې د هغه شـتون به قوانین او د بازار رسمونه نا چلنده کړي، ځکه چې  هیڅوک به دا جرأت نه شي کولی چې هغه سره د مالیاتو، احتکار او په نرخونو کې د بې ځایه مداخلې یا نورو ستونزو په راولاړولو کې محاسبه وکړي، او له هغه حساب واخلي (نو په دې توګه به د دې موضوعاتو اړوند ټول قوانین او رسمونه نا چلند وګرځي).

ابن خلدون ټینګار کوي چې مالي ځواک او واک هرڅه نه دي، بلکې خلک د خپلو توکو د پلورلو پر مهال د یو  واکمن سره د قیمت د ښکته پورته کولو په اړه په مناقشو او خبرو اترو کولو شرمیږي. ډیری یې د هغه سره د سوداګرۍ په ډګر کې د سیالۍ کولو څخه هم ډډه کوي، چې دا ټول لاملونه واکمن د یو پټ انحصارګر په توګه معرفي کوي، سره له دې چې که هغه د دې کار غوښتنه هم ونه کړي.

که چیرې موږ تاریخ ته وګورو، موږ کولی شو په مقدمه کې د ذکر شوو موضوعاتو سربیره، دا ټکی اضافه کړو چې خلک خپل وضعیت د خپل حاکم له وضعیت سره پرتله کوي، لکه څرنګه چې ډاکټر علي البدوي په خپل کتاب (وعاظ السلاطین) کې د دې یادونه کړې ده، هغه وایي: کله چې  خلک خپل حاکم له مالي پلوه په ښه حالت کې ګوري او دوی د بد مالي حالت سره لاس او ګریوان وي، نو دوی بیا هر هغه څه ردوي چې د هغه واکمن له لورې دوی ته ویل کېږي او غوښتنه ترې کېږي، سره له دې چې هغه د دې ولس لپاره ګټور هم وي. خو که چیرې دوی همداسې په بد مالي حالت کې وي، نو بیا دا غوښتنې د هغه واکمن له لورې منې چې د شتمنۍ نښې پرې را څرګندې شوې نه وي.

**ښه معاشات او د ولس سره مالي مرستې بېرته د دولت په ګټه تمامېږي**

د ابن خلدون په وینا، دولت تل د رعیت او ملت په لاس کې د پیسو د شتون تر ټولو قوي سرچینه ده (یعنې د رعیت په لاس کې شته پیسې غالباً د دولت له پلوه وي). هرکله چې دولت د معاشاتو، ډالیو یا مرستو په بڼه په رعیت باندې پیسې ویشي، نو دا پیسې بیرته د مالیاتو په بڼه ترې اخلي، چې د ابن خلدون په زمانه کې یې خراج بللو.

هغه څه چې د دولت له لورې د  هیواد د وګړو ته د پیسو د ورکولو  اهمیت نور هم لوړوي هغه دا دی چې په عصري دولتي سیستمونو کې خلک په پای کې د مالیې په ورکړه مکلف دي. که چیرې حکومت دا مرستې ودروي، نو د نغدو پیسو جریان به کم شي، او دا کولی شي د بازارونو ثبات ته ګواښ پیښ کړي چې د بازار انقباض، د صادراتو کمښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د کاري فرصتونو له لاسه ورکولو لامل کيږي، چې په ورته وخت کې په ټولنيز او اقتصادي ثبات ناوړه اغېزې درلودلی شي.

**ظلم هيوادونه شاتګ ته اړ باسي:**

ابن خلدون په ژوند کې د خلکو د غبرګونونو د ډېر هوښيارانه تفسير په سياق کې په مقدمه کې وايي: چې ظلم که هغه که مادي او که معنوي وي، په خلکو کې د کار کولو او د رزق د ګټلو انګېزه له منځه وړي. ځکه دوی داسې تصور کوي چې د دوی د ټولو کارونو ثمره به د ظالمانو په غېږ کې ولوېږي او د دوی ټولې هڅې به ګټې دي، که چيرې دا په عملي توګه واقع هم نه شي خو دوی دا تصور کوي.

له دې امله چې دولت په خپلو خلکو او د هغې د پراختيا لپاره د هغوی د هڅو پر بنسټ ولاړ دی او پر مخ ځي، نو د ظلم او بې عدالتۍ دا ډول پايلې يې شا تګ ته اړباسي. په دې ځای کې، ښايي موږ په ظالمو هېوادونو کې د زده کړې څخه د تيښتې د لوړې کچې لامل او د ظلم د زياتېدو په صورت کې د انفرادي توليد په کچه کې د کمښت لامل هم درک کولای شو.

په هيواد کې دا وروسته پاتې والی نه يوازې په کار او اقتصادي پرمختګ بلکې د ژوند په ټولو ډګرونو اغېزه کوي. د دې په پايله کې پوځ او اردو کمزورې کېږي، د روغتيايي خدماتو کچه را ټيټيږي، د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو کچه ټيټيږي، او دا اغېزې په کومې ځانګړې زمانې پورې هم ځانګړې نه دي، لکه څرنګه يې چې په پخوانيو زمانو کې دا اغېزې درلودې اوس يې هم درلودلی شي.

ابن خلدون د ظلم له بدترينو ډولونو څخه يو انحصار ښودلی دی، او تصور يې دا دی چې دا د خلکو څخه د رسمي غلا يوه بڼه ده.

**د حکومتونو (نظامونو) د له منځه تللو لومړنۍ نښې:**

په دې ځای کې غواړو يادونه وکړو چې د ابن خلدون له نظره دلته دولت په هغه ځانګړې معنا نه دی چې هغه د ملت، جغرافيې او سياسي نظام او حاکميت څخه عبارت دی، بلکې د دولت څخه يې مراد حکومت دی. له همدې امله وايي چې د يوه دولت د له منځه تللو لومړنۍ نښه په هغه کې د انقسام او اختلاف رامنځته کېدل دي.

د انقسام او ټوټه کېدو څخه د ابن خلدون موخه هر هغه څرګند شر دی چې په يو دولت (نظام) کې رامنځته کېږي، هغه که مادي انقسام او ټوټه ټوټه کېدل وي، لکه په پخواني شوروي اتحاد کې چې رامنځته شو چې ځينې هېوادونو ترې جلا کيدل پيل کړ او په پايله کې په بشپړ ډول له منځه ولاړ، يا معنوي انقسام او ټوټه ټوټه کېدل وي، لکه په يو هېواد کې چې دوه سيستمونه رامنځته شي، يو يې حاکمه طبقه او د هغه ډله وي چې واک يې انحصار کړی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ځانګړو امتیازاتو په دایره کې ژوند کوي، او بله برخه عام خلک او ولس وي چې د هغوی لپاره قوانین او معیارونه بدل وي. دا هغه څه دي چې موږ په خپلو هېوادونو کې په دې وروستیو وختونو کې د عربي پسرلي (الربیع العربي) څخه وړاندې په خپلو سترګو لیدل او همدا هغه معنوي انقسام وو چې دا حکومتونه او نظامونه یې له منځه یوړل.

**د ابن خلدون له نظره، د زوال له پیل وروسته د خلاصون لاره نشته!**

د ابن خلدون په مقدمه کې یوه مطلقه قاعده بیان شوې ده، او هغه دا چې کله چې د دولت یا نظام هرم مخ پر ښکته لور ته حرکت پیل کړي، او سقوط یې پیل شي بیا یې د ژغورنې او ستونزې د حل امکان شتون نه لري. ابن خلدون وایي چې په داسې حالت کې بیا د نظام د سقوط موضوع حتمي ده او هیڅ بشر بیا د سقوط په مخ کې نه شي درېدلی، که چیرې تجربه لرونکي سیاستوال هم په دې حالت کې د نظام د اصلاح لپاره را وړاندې شي بیا یې هم د سقوط څخه ژغورلی نه شي. که چیرې دوی فکر وکړي چې نظام به د سقوط څخه وژغورلی شي؛ خو داسې نه ده، بلکې د سقوط دا سفر به د نظام یا شاید د ټول دولت تر سقوط پورې دوام پیدا کوي.

ابن خلدون د نظام د زوال د پیل کېدو په صورت کې د تغییر پر وړاندې د واکمنانو د ناتوانۍ اصلي لامل د نظام په سر کې د هغو واکمنانو شتون بللی چې د اسراف او تعیش څخه ډک ژوند سره عادت شوي وي. دا ډول واکمنان تر دې چې اولادونه یې هم بدلون منلو ته چمتو نه وي، چې د بدلون د نه منلو له امله د سقوط دا سفر دوام پیدا کوي، خو کېدلی شي د مخلصو قیادتونو د کوښښونو په پایله کې د سقوط دا پروسه لږه ورو شي او حرکت یې سست شي.

**په حکومتونو کې د ستونزو د رامنځته کیدو بنسټیز عوامل:**

ابن خلدون په لنډو ټکو کې دا را په ګوته کړي چې په هر حکومت کې بې نظمي د دوو لاملونو له امله رامنځته کېږي:

لومړی په امنیتي نظام کې خلل او ستونزې: د امنیت دا ستونزې کله له دې امله را ولاړېږي چې ټول امنیت یو ځانګړي قوم، یا یوې ځانګړې فرقې ته وسپارل شي او کله له دې امله راولاړېږي چې د امنیت ټولې چارې د یوې داسې ډلې په واک کې ورکول شي چې د هغې ډلې افراد په ځانګړو ګټو سره را ټول شوي وي.

په نظام کې د ستونزو او بې نظمیو د رامنځته کیدو دویم لامل مالي بې نظمي ده، او دا په دې توګه چې ښایي په هېواد کې یوه داسې شتمنه طبقه رامنځته شي چې د دولت په پرتله هم زیاته شتمنه وي، نو دا طبقه بیا د حکومت او نظام د امر د منلو لپاره اماده نه وي، او تصور یې دا وي چې ولې باید د حکومت اوامر او احکامومني؟ همدا راز دا ډله بیا د دې هڅه هم کوي چې په هېواد کې ټول قوانین د خپل طبیعت سره سم عیار کړي. دا شتمن خلک به یا د افرادو په شکل کې وي او یا به د ډلو په شکل کې، دوی د حکومت سره د ټکر څخه د بچ کېدو لپاره د دولت سره ایتلاف کوي او د یو ترون پر بنسټ د دولت سره په ګډه کار کوي، چې د شتمنو او دولت ترمنځ دې ایتلاف ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عربي پسرلي څخه وړاندې د پانګوالو او دولت ترمنځ یووالی او ګډ کار ویل کېده. د شتمنو او دولت ترمنځ دا ناروا ایتلاف د غربیانو په وړاندې یو اعلان شوی جنګ دی، چې په دې کې جنګ کې د ولسونو پر ضد د دې شتمنو تر څنګ حقوقي او امنیتي نظام هم ولاړ وي (یعنې د دې پر ځای چې قانون او امنیتي نظام د خلکو ساتنه وکړي هغه هم د حکومت او شتمنو ترمنځ د دې ناروا ایتلاف په پایله کې د ولس پر ضد کارول کېږي).

**یادونه:** په دې باب کې مو ډېرې برخې په پام کې نه دي نیولي، او لامل یې دا دی چې په اوســنی زمانه کې د تطبیق وړ نه دي، ځکه د وخت په تېرېدو سره ډېر عادي حقیقتونه وګرځېدل چې ټول خلک پرې پوهیږي، یا دا چې د ابن خلدون دا افکار بشــپړ دیني رنګ لري، حال دا چې زموږ موخه دا ده چې په دې لنډیز کې په هغو مهمو ټکو تمرکز وکړو چې ډېر خلک پرې نه پوهیږي. موږ بیا هم یادونه کوو چې د متخصــصــینو له لورې د دې لنډیز لوستل د ابن خلدون د مقدمې د لوستلو بدیل کېدلی نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم باب: د هیوادونو، ښارونو او نورو ودانیو په اړه

په دې باب کې لاندې تصورات او افکار شامل دي:

**په تېرو زمانو کې د جوړو شویو ودانیو په اړه د ابن خلدون نظر**

ابن خلدون د کسرى د دربار د ودانۍ او د مصر د اهرامونو په اړه لیکل کړي دي، او دا نظر یې رد کړی چې هغه خلک چې دا ودانۍ یې جوړې کړي دي اوږده قامتونه او لوی بدنونه درلودل لکه ځینې خلک چې فکر کوي. د دې پر ځای، ابن خلدون په دې ټینګار کوي چې د دې لویو ودانیو د جوړولو راز د هغو دولتونو ځواک او په بېلابېلو ډګرونو کې د هغوی بې سارې پرمختګ دی، چې په پایله کې دا دولتونه وتوانېدل چې:

**لومړی:** د دې پروژو د تکمیل لپاره زیات شمېر کارګران را ټول کړي.

**دویم:** د دومره لویو ودانیو د بشپړولو لپاره اړین وسایل چمتو کړي.

**دریيم:** دا پروژې په سمه توګه مدیریت کړي.

دا لوی دولتونه دومره پیاوړي وو چې که چېرې به د دوی واکمن مړ شو، نو د هغه پسې راتلونکي واکمن د دې توان درلوده چې له ځنډ او خنډ پرته د دې لویو ودانیو د جوړولو کار بشپړ کړي.

د ابن خلدون نظر دا دی چې لویې ودانۍ د قوي او ځواکمنو نظامونو او حکومتونو په لاس رامنځته کېږي، ځکه چې د لوړو ودانیو جوړول د خلکو لوړوالی یا پلنوالي ته اړتیا نه لري، بلکې غوره ساختماني کارکوونکو، ښه مدیریت او ګټورو تجهیزاتو ته اړتیا لري. همدارنګه، د دې ډول ودانیو جوړول کافي وخت ته اړتیا لري (او دا ټول شیان قوي حکومتونه چمتو کولی شي).

**د افریقا د آبادولو پروسه ولې تر اوسه ځنډېدلې ده؟**

دا څرګنده ده چې ابن خلدون سلګونه کاله وړاندې په افریقا کې د هغه وضعیت په اړه خبرې کړي چې نن ورځ هم شتون لري. هغه د **(په افریقا او مراکش کې لوی او واړه ښارونه لږ دي)** تر سرلیک لاندې یادونه کوي چې د افریقا په آبادولو کې د ځنډ اصلي لامل د هغه سیمې په اصلي اوسیدونکو کې د خورا قوي قبیلوي طبیعت شتون دی، چې د معاصر بدلونونو او پرمختګونو پر وړاندې شدید مقاومت څرګندوي. سربیره پردې، هلته حکومتونه لنډ مهالي دي، او د اوږدې مودې لپاره دوام نه کوي، ځکه چې په مکرر ډول د جګړو یا کودتاګانو له امله ژر بدلیږي را بدلېږي. په دې اړه چې اوس کوم حالت شتون لري همدا حالت پخوا هم شتون درلود، او د دې معنا دا ده چې هر نوي نظام د راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره باید نوی پیل وشي (سره له دې چې د پرمختګ بنسټیز شرط تراکمي کوښښونه دي چې وروستي واکمنان باید د پخوانیو واکمنانو کوښښونو ته ادامه ورکړي او هر څه بیا له صفر څخه پیل نه کړي).

د ابن خلدون دا نظر له دې څخه هم ثابتېږي چې په افریقا کې هغه عربي هیوادونه چې هلته د اوږدې مودې لپاره حکومتونه با ثباته پاتې شوي دي، دې هېوادونو د دې لویې وچې د نورو غیر عربي هیوادونو په پرتله خورا ډېر پرمختګ کړی دی. که څه هم د افریقا د لویې وچې نور هېوادونه وروسته پاتې دي خو په دې وروستیو کې، د بیلګې په توګه په سویلي افریقا او انګولا کې هم د حکومتونو او سیاسي نظامونو د ثبات او پرمختګ وروسته موږ هلته د ودانیو او پرمختللو ښارونو د جوړېدو شاهدان یو.

**ولې د عربو او مسلمانانو څخه د فرعونیانو یا فارسیانو په څیر لویې ودانۍ پاتې نه دي؟**

ابن خلدون دې پوښتنې ته د څو عواملو په ګوته کولو سره ځواب ورکړی دی، چې موږ یې دلته د ټکو په توګه وړاندې کوو ترڅو پوهېدل پرې آسان شي:

- د عربانو کلیوال طبیعت د دې یو بنسټیز لامل دی، او دا طبیعت د عربانو د تکوین برخه ده او د مودو په تېرېدو هم له دوی څخه نه جلا کېږي.
- کوم هېوادونه چې دوی (عربانو او مسلمانانو) فتح کول هلته دوی ځانونه بهرنیان احساسول (یعنې هلته د دایمي استوګنې تصور ورسره نه وو، چې د هغې لپاره لویې ودانۍ جوړې کړي).
- دوی د نوو ودانیو د جوړولو پر ځای پر هغو ودانیو بسنه وکړه چې هلته له وړاندې موجودې وې.

د عربانو او مسلمانانو له لورې د لویو ودانیو د نه جوړولو یو لامل دا هم وو چې د اسلام دین په ساختماني چارو کې اسراف او زیات لګښت څخه منع کوي.

په هغو سیمو کې چې دوی کنترولولې د دوی اوسېدل او قیام لنډمهاله وو، ځکه چې دوامداره جګړو ځینې وختونه دوی له دې سیمو څخه کوچېدلو ته اړ ایستل، چې له رواني پلوه یې دوی ته داسې احساس ورکوه چې د داسې لویو ودانیو په جوړولو کې ځان مصروفول ګټور نه دي چې جوړول او سرته رسول یې اوږدې مودې ته اړتیا لري.

د لویو ودانیو د نه جوړولو یو بل لامل دا هم وو چې دوی (مسلمانانو او عربانو) د ښارونو د جوړولو لپاره په پلان جوړولو او ودانولو کې د ډېر سرعت څخه کار اخیسته، او په دې لړ کې به یې د کښت کولو آسانتیا، د څړځایونو شتون او خپلو نورو بنسټیزو اړتیاوو ته لاسرسی په پام کې نیول او نورې آسانتیاوې (چې په دې کې لوی ودانۍ هم شاملې دي) یې له پامه غورځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يو فرد په يوازې ځان هم د ټول ښار د ويجاړولو توان لري:**

د يو شخص په فساد اخته کېدل د بل شخص په فساد کې لوېدلو ته لار هواروي، نو په دې توګه د يو فرد څخه بل فرد ته د فساد د انتقال له لارې په يو ښار کې فساد خپرېږي تر دې چې د هغه ښار زياتره خلک په فساد اخته شي. په فساد اخته کېدونکي خلک په عمومي توګه هغه خلک دي چې د هرې لارې څخه (چې هر څومره ناروا او بده وي) خپلې ګټې خوندي کولی شي. ستونزه ممکن د يو کس څخه پيل شي چې دروغ وايي او دوکه کوي، او دا ستونزه له يو کس څخه بل کس ته انتقال مومي تر دې چې دا په هيواد دومره خپره شي چې دا يو عام حالت وګرځي، او کله چې د فساد دا حالت دومره عام شي نو بيا دا د هغه هېواد بنسټونه لړزوي. په پايله کې واکمنان هم د دوی په څېر شي، او په پايله کې سقوط او بربادي د ټولو برخليک وګرځي.

دا هغه څه دي چې ابن خلدون يې د يو فاسد فرد د خطراتو په اړه يادونه کړې ده، او دا حقيقت موږ په واقعيت کې په خپلو سترګو وينو. نو موږ ته په کار دي چې : د هر فساد پر وړاندې داسې غبرګون وښيو چې هر مفسد په خپل ځای وغندو، درواغجن ته څرګند کړو چې هغه دروغ وايي، او هر مفسد چې څه وړاندې کوي هغه مسترد کړو، د هيڅ مفسد له لورې هيڅ هم ونه منو او نه يې تشويق کړو.

**د ابن خلدون له نظره د تمدن بد اړخونه:**

ابن خلدون د تمدن حالت (د عيش و عشرت ژوند، او ډول ډول نعمتونو ته د لاسرسي پيدا کولو ته ابن خلدون د تمدن حالت وايي) ته د رسيدو څو بدې اغېزې يادې کړي دي، دا بدې اغېزې په لاندې توګه دي:

- د شهوتونو پسې روانېدل او د ديني انګيزې کمزورې.
- د تمدن په حالت کې د ژوند د ډېرې نوې اړتياوې رامنځته کېږي، او د دې نويو اړتياوو له امله ژوند نور هم ستونزمن کيږي.
- د مبالغې تر حده د نرخونو لوړېدل.
- د وسيلې حلت او حرمت په نظر کې نه نيول، او له هرې وسيلې څخه خپل هدف ته ځان رسول.
- د تمدن له بدو اغېزو څخه يوه بده اغېز د خېټې د شــهوت د کچې لوړېدل (لکه د خوړو ډولونه، د هغې د وړاندې کولو طريقې، او بنې) او د جنسيــ شــهوتونو زياتېدل دي، د بېلګې په توګه د غير عادي جنسيــ اړيکو لکه لواطت راڅرګنديدل، د غير شرعي د ازدواج له دائرې څخه بهر د جنسيې اړيکو زياتوالی او داسې نور.

هيڅوک هم هغه که هره نظريه او هر فکر ولري، ديندار وي که سيکولر، هيڅوک هم هغه څه نشي ردولی چې ابن خلدون د تمدن د بديو په اړه ويلي دي. دلته بايد يو شي ته پام وکړو چې ابن خلدون (مطلق پرمختګ ته تمدن نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي) بلکې د هغه له نظره  تمدن د يو ملت لپاره د پرمختګ د اوج هغه ټکی دی چې له هغه وروسته د هغه ملت زوال پيل کيږي. دا بدۍ په اسلامي تمدن کې هم هغه وخت راڅرګندې شوې چې هغه خپل اوج ته ورسيده او زوال يې پيل شو.

که چيرې موږ دې معاصر تمدن ته پام وکړو چې اوس مهال په لويديځه نړۍ کې قايم دی او د امريکا متحده ايالات يې رهبري کوي، موږ ته به دا پورته ټولې بدۍ په کې په څرګند ډول ښکاره شي، او ښايي دا د دې يوه لويه نښه وي چې دا تمدن هم خپل اوج ته رسيدلی دی او اوس به د زوال مرحلې ته ننوځي، او په حقيقت کې يې دا مرحله پيل شوی ده. ځکه د نړيوالو څيړنيزو مرکزونو له لورې د ډېرو خپرو شويو څېړنو له مخې، لکه څرنګه چې موږ مخکې هم يادونه کړی وه، چين به په ۲۰۳۰ کال کې د نړۍ لومړی ځواک وي، او هند ښايي دويم يا درېيم لوی ځواک وګرځي.

دا په دې معنا ده چې چين اوس د ودې په حالت کې دی ترڅو د پرمختګ او تمدن اوج ته ورسيږي، او کله چې اوج ته ورسېده بيا به هلته د چين په اړه د ورته سناريو د تکرار شاهدان يو. نو په هغه وخت کې به په چين کې هم بيې لوړې شي، اخلاقي فساد به اوج ته ورسېږي او د توکو د استهلاک طرز او طريقې (لکه اوس چې په غربي تمدن کې حاکمې دي) به پکې را ښکاره کيږي، بيا به يو نوی ځواک راڅرګند او راپورته شي او د ورته مرحلې څخه به تير شي (په همدې توګه بشري تمدنونه د اوج مرحلې ته رسېږي او بيا د مخ پر ښکته لور ته حرکت کوي او خپل ځای يو بل تمدن ته پرېږدي).

**د واکمن نظام پر ضد د هر انقلاب مرکز يو ليرې ښار وو:**

ټول د دې شاهدان يو چې څرنګه سيدي بوزيد[1] د تونس د انقلاب[2] د پيل مرکز ، او په ليبيا کې هم بنغازي د انقلاب مرکز وو، او نورو انقلابونو سره ورته قضيه تکرار شوه. ابن خلدون په دې اړه خپل ځانګړی تحليل لري چې ولې د هر انقلاب يا د رژيم د سقوط د مرحلې د پيل او په هيواد باندې د بديل دولت د رامنځته کيدو مرکز يو ځانګړی ښار وي.

هغه په مقدمه کې دا په څرګند ډول وايي چې هرکله چې يو نظام د خپل کمزورۍ او زوال پړاو پيل کوي، نو د نظام واک په لېرې پرتو ســيمو کې کمزوری کيږي، چې دا کار هلته د نوې رهبرۍ د رامنځته کيدو لامل ګرځي. دا نوي رهبري له دې امله رامنځته کېږي چې انساني فطرت د يوې رهبرۍ د موجوديت غوښتنه کوي (او پخوانی رهبري د کمزورۍ او زوال په مرحله کې وي نو انساني طبيعت غواړي چې يوه نوي رهبري رامنځته شي). د رهبرۍ د خلا په دې حالت کې ځينې کســان د رهبرۍ د ترلاســه کولو لپاره د نورو پر ضــد مقابلې ته را دانګي (چې په پايله کې نور مغلوبېږي) او دا د يو نوي مشرـتابه او قيادت په توګه راڅرګنديږي، او دا ليرې ښـار د نظام سره د خپلې شـخړې په

[1] - دا د تونس د پايتخت نه ليرې يو ښار دی.

[2] - په بهار عربي يا عربي پسرلي کې چې کوم انقلاب رامنځته شو او د بن علي حکومت يې له منځه يوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کې د یو خپلواک هېواد او خپلواکې ســیمې په توګه را څرګندېږي، ځکه چې پخوانی نظام د خپلې کمزورۍ له امله نه شي کولی چې د هېواد په ټولو سیمو خپل واک قایم وساتي. دا ښار تر هغه وخته پورې خپل مرکزیت ساتي ترڅو نور ښارونه په ورته ډول حرکت پیل کړي (چې په پایله کې پخوانی نظام را چپه شي او قیادت بېرته مرکزي ښار ته ولیږدول شي). دا قضیه په هغو عربي انقلابونو کې چې په ۲۰۱۰ کې پیل شول، خورا روښانه معلومیږي.

**د یو هېواد په یو ښار کې د یوې ژبې لهجې ولې سره توپیر لري؟**

ابن خلدون د دې موضوع په اړه هم خپل نظر څرګند کړی دی، ځکه چې هغه نه غوښتل په ټولنه کې هیڅ کومه موضوع له وضاحت څخه پرته پاتې شي. د تاریخ په اوږدو کې په ځینو ښارونو کې د نورو ښارونو سره د ژبو د لهجو د توپیر سبب د قومونو ګډوډېدل دي، او د دې ترڅنګ د ښارونو ترمنځ د دیني تنوع موجودیت یې بل سبب دی.

دیني تنوع خو یو ښار ته په نوبت سره د دریو آسماني ادیانو (یهودیت، مسیحیت او اسلام) په راتګ کې نغښتې ده، له همدې (د ادیانو د تناوب له) امله موږ په عربي سیمه کې ګورو چې ځینې ښارونه د اسلام پرته د کوم بل دین په مرکزونو بدل شوي دي.

او په ښارونو کې قومي تنوع د تاریخ په اوږدو کې پر هیوادونو د استعمارګرو د بدلون په پایله کې رامنځته شوې ده (د استعمار ګرو دا بدلون را بدلون یوازې په اوسنۍ زمانه کې نه بلکې د تاریخ په اوږدو کې دا کار شوی دی )، چې د هر نوي استعمار سره هیواد او د دوی د کنترول لاندې سیمو ته نوې کلمې را دننه کېږي. نو د هر ښار د خلکو ژبه چې عربي ته نږدې ده، د دې معنا دا ده چې د هغه ښار ډېری اوسیدونکي د عربو د قومونو د نسل څخه دي، یا دا چې دوی اسلام ته د دین په توګه ډېر ژمن پاتې دي (چې له دې امله یې د عربي ژبې اصالت ساتلی دی)، او یا د بهرني استعمار سره ډېر کم مخ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم باب: د ژوند د تېرولو اړتیاوې او د کسب او صنعت له لارې د معاش لاسته راوړل

په دې باب کې لاندې افکار او تصورات شامل دي:

**د ابادۍ، کار او رزق ترمنځ اړیکه:**

که د هغه مفهوم څخه صرف نظر وکړو چې ابن خلدون یې د «رزق» په اړه له دیني پلوه نه مطرح کوي، ځکه هغه یوه شرعي اصطلاحي قضیه ده چې زموږ د موخې سره ډېر تړاو نه لري. غواړو د دې عربي فیلسوف له لورې په گوته شوي یو مهم ټکي ته اشاره وکړو، او هغه دا چې ابن خلدون په خپل دې کتاب کې د نورو معاصرو اقتصاد پوهانو څخه ډېر وړاندې دا حقیقت موندلی وو چې د کارنو تنوع او زیاتوالی د یو هیواد د خلکو د اوسط عاید په زیاتوالي اغېز لري. هغه همدا راز په مستقیم ډول د فرد د اوسط عاید د مقدار او په هیواد کې د روان رغنیز کار د کچې ترمنځ په اړیکه ټینگار کوي (یعنې هر څومره چې رغنیز کار زیات وي په هماغه کچه به د فرد اوسط عاید لوړ وي).

اوس مهال خو دا په علمي توگه ثابته شوې هم ده چې که چیرې په هر هیواد کې د ودانیو د جوړولو او رغنیزو کارونو کې زیاتوالی رامنځته کېږي، د دې په پایله کې د هغه هېواد د وگړو په اوسط عاید کې هم زیاتوالی لیدل کیږي، ان که د هر مسلک او حرفې سره تړلي وي. په دې معاصر تاریخ کې داسې هیوادونه هم شتون لري چې د شتمنۍ طبیعي سرچینې نه لري، مگر دوی په کارونو کې پراخه تنوع لري چې په پایله کې یې د وگړو د انفرادي عاید په لوړېدو کې مرسته کړې. د دې په پایله کې په ټوله کې د هغوی اقتصاد وده کړې، او هغه هېواد په یو نړیوال اقتصادي ځواک بدل شوی (له دې څخه موخه دا ده چې د کارونو تنوع په اقتصادي پرمختگ ډېره لویه اغېزه لري).

**د پټو خزانو او ځمکې لاندې پیسو ایستل:**

هرڅومره چې موږ مقدمه لولو، هومره موږ د ابن خلدون له خوا په خپله مقدمه کې د هرڅه ذکر کولو ته حیرانیږو. هغه د ځمکې لاندې څخه د پیسو ایستلو هڅې ته د ځینو خلکو د لیوالتیا د موضوع څخه یادونه کړې ده، او دوی یې د بې عقلو په توگه یاد کړي دي. دوی ځکه کم عقل دي چې دوی باور لري چې د پخوانیو ملتونو ټولې پیسې د ځمکې لاندې زیرمه شوي او په جادویي تعویذونو سره مهر شوي دي (چې څوک ورته لاس رسی پیدا نه کړي).

ابن خلدون په دې ټینگار کوي چې په دې اړه خورا ډېر خرافات شتون لري، چې له دې جملې څخه یو دا هم دی چې سره زر په چینجو بدلېږي، او د خزانو د ساتنې لپاره د ساحرانه جنگیالیو په توگه راڅرگندېږي، او دا ډول نورې افسانې یوازې دروغ دي چې له ډېر پخوا راهیسې نه یوازې په عربي نړۍ کې، بلکې په ټوله نړۍ کې شهرت لري. د ابن خلدون تصور دا دی چې په دې شیانو هغه وخت باور رامنځته کیږي چې ځینې خلک ونه شي کولی په طبیعي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول د خپل ژوند لپاره اړتیاوې د کسب او کار له لارې تامین کړي، نو په دې ډول افسانو باور کوي او د دې خزانو په لټه کې وځي، چې دې چارې د دې افسانو په خپرېدو او تر نن ورځې پورې د دې افسانو په ژوندۍ ساتلو کې مرسته کړې.

د پخوانیو ملتونو د مالونو او خزانو د برخلیک په اړه د هغه نظر دا دی چې دا د تاریخ په اوږدو کې له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدول شوي دي، او ځینې یې په ملموسو شتمنیو لکه ودانیو لګېدلي دي چې موږ یې اوس هم ولاړې ګورو، چې د جوړولو لپاره یې ډېرو پیسو ته اړتیا وه. له همدې امله ویلی شو چې پیسې په یو ځای کې نه پاتې کیږي بلکې د حرکت په حال کې دي، نو که په یو هیواد کې کمېږي، نو دا به په دې معنا وي چې په بل هیواد کې زیاتېږي.

**د مال او ټولنیز حیثیت ترمنځ اړیکه:**

کولی شو چې د ابن خلدون له خوا د کارول شوي لفظ «جاه» لږ په وسیعه معنا باندې واخلو او ووایو چې د «جاه» یا ټولنیز حیثیت په مفهوم کې د ډېرو خلکو سره د پراخو اړیکو د لرلو سربیره لویې کورنۍ ته انتساب هم شامل دی، یعنې دا ټول شیان یو انسان ته اوچت ټولنیز حیثیت او «جاه» وربخښي. د ابن خلدون نظر دا دی چې که یو سړی د ټولنیز حیثیت او «جاه» څخه پرته پیسې ولري، هغه د خپلو پیسو په اندازه خپلې چارې مخ ته وړلی شي، خو که چیرې شتمن سړی د شتمنۍ تر څنګ ټولنیز حیثیت او «جاه» هم ولري نو کولی شي (په قانوني ډول) ډېر خدمات ترلاسه کړي چې دا د هغه د پانګې د چټکې ودې لامل کیږي.

د ابن خلدون د دې تصور د تایید په پار وایو چې ډېرې څېړنو تایید کړې چې په متحده ایالاتو کې ۷۰ سلنه بریالۍ پروژې د پانګې یا لوی ذکاوت له امله نه بلکې د هغو اړیکو له امله بریالۍ شوي دي چې د دې پروژو مالکینو درلودې. د بېلګې په توګه، که چیرې د فیسبوک پروژې ته ځیر شو د دې پروژې د پیل لپاره چې کوم تمویل ته اړتیا وه هغه د نیسټر د پخواني مالک سره د اړیکو له لارې ترلاسه شوی وو، همدا د نیسټر پخوانی مالک وو چې د پانګوالو سره یې د فیسبوک د پروژې د مالکانو د اړیکو په جوړولو کې مرسته کړې وه.

**د عقل فیصله دا ده چې دیني عالمان نه شتمن کیږي:**

ابن خلدون په دې ټینګار کوي چې د دین عالمان تر هغه وخته پورې شتمن کېدلی نه شي تر څو چې دوی یوازې د دعوت او د دین د پوهې د خپراوي په تګلاره ثابت پاتې وي. د دې لامل دا دی چې هغه څه چې دوی یې خلکو ته وړاندې کوي، هغه د عامو خلکو له لورې د ژوند د بنسټیزو اړتیاوو څخه نه ګڼل کیږي، ځکه دوی د دین په اړه خلکو ته معلومات ورکوي، او خلک د دین په اړه بنسټیز معلومات د خپلو خپلوانو څخه تر لاسه کوي. د عاید کچه د هغه څه (تولیداتو او خدمتونو) د اهمیت په اندازه وي چې خلکو ته وړاندې کېږي (نو کله چې هغه خدمات چې دیني عالمان یې خلکو ته وړاندې کوي، خلکو ته زیات اهمیت نه لري)، نو له دې امله د دوی د عاید کچه هم ټیټه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که چیرې موږ یو یو دیني عالم ولیده چې له کوم څرګند کار او سوداګریز فعالیت څخه پرته د هغه شتمني په وده کې وه، نو پوهه شئ چې هغه د تبلیغ او تدریس پرته بله کومه دنده پرمخ وړي، او د دې دندو له جملې څخه تر ټولو مشهوره دنده چې دیني عالمان یې پر مخ وړي او خپله شتمني پرې زیاتوي، هغه د دې عالمانو درباري کېدل دي. درباري علماء هغو ته ویل کېږي چې د حکومتونو او واکمنانو د غوښتنو سره سم فتواګانې ورکوي، نو د دوی له لورې چاپلوسي او خواري او ذلت وي او د واکمنانو له لورې پیسې او شتمني وي چې په دې توګه دوی خپل مال او دولت زیاتولی شي.

## د یو بریالي سوداګر ځانګړتیاوې څه دي؟

ابن خلدون وایي چې د سوداګرۍ ساده معنا دا ده چې توکي په ټیټه بیه واخیستل شي او په لوړه بیه وپلورل شي، او موخه ترې تل شتمنۍ ته وده ورکول وي. د ابن خلدون نظر دا دی چې د سوداګر ترټولو مهمې ځانګړتیاوې د خپلو حقونو لپاره د وړریدو جرائت او د خپل حق د ترلاسه کولو لپاره د مبارزې څخه ویره نه لرل دي. همدا راز یوه بله ځانګړتیا یې دا ده چې هغه باید د سوداګرۍ په قانون پوهه وي. سربیره پردې، هغه باید د پراخه اړیکو جوړولو په هڅه کې وي تر څو هغه څه تر لاسه کړي چې ابن خلدون ورته ټولنیز حیثیت یا «جاه» وایي.

سوداګر باید له نورو څخه د خپلو حقونو د غوښتلو په اړه د شرم احساس و نه کړي، ځکه که د خپل حق په غوښتلو کې د شرم احســـاس وکړي نو دا به نور خلک پرې را زړور کړي او پر دې به یې تېري ته وهڅوي. د دې ترڅنګ په بازار د پوهیدو، په پریکړو کې د بیړې نه کولو او د خپل حیثیت او ښه شهرت د ساتلو اړوند اصولو باندې پوهېدل د یو بریالي سوداګر ځانګړتیاوې دي.

## د سوداګرۍ دوران باید اوږد نه وي

داسې ښکاري چې ابن خلدون یو اقتصاد پوه هم وو، او د هغه وخت خلک ترې ناخبره وو. هغه په دې ټینګار کوي چې په سوداګرۍ کې د ګټې پروسه یوازې د پیسو هغه اندازه نه ده چې سوداګر یې لاسته راوړي، بلکې هغه یادونه کوي چې په ګټه کې دا هم شامل دي چې دا ګټه باید د یوې مناسبې مودې په دننه کې تر لاسه کړي، ترڅو د سوداګر پیسې د اوږدې مودې لپاره کنګل پاتې نشي، که دا پیسې یې کنګل پاتې شي نو سوداګر به اړ وي چې خپله اصلي پانګه (رأس المال) د نورو لګښتونو لپاره وکاروي (موخه یې دا ده چې که دا ګټه ډېره وروسته په لاس راځي په دې موده کې به هغه د رأس المال څخه دومره پیسې ولګوي چې د دې ګټې څخه به زیاتې وي، نو دا خو ګټه نه شوه! نو پکار دا ده چې باید دا ګټه په کمه موده کې تر لاسه شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن خلدون دا حقیقت په ټینګار سره مطرح کړی چې هغه توکي چې بیې یې ناڅاپه راټیټیږي، او د اوږدې مودې لپاره همداسې ټیټ پاتې کیږي، په عامه توګه دا د دې لامل کیږي چې ځینې سوداګر له بازار څخه بهر شي، یو شمیر سوداګر خپل افلاس (دیوالي کیدل) اعلان کړي او یو شمیر د ډیر لوی زیان سره مخ شي.

**تمدن او صنعت غبرګوني دي:**

ابن خلدون وایي چې ودانۍ او ودانیز کارونه د تمدن جوهر دی، او له دې امله چې ودانیز کارونه صنعت ته اړتیا لري نو په دې توګه صنعت او تمدن سره غبرګوني دي. ابن خلدون په مقدمه کې دا هم ویلي دي چې هر څومره چې د تمدن دوران اوږد وي په هماغه اندازه صنعتونه پراختیا او زیاتوالی مومي. دا واقعیت موږ سره مرسته کوي چې درک کړو چې څرنګه په عربي-اسلامي تمدن کې ځینې نوي صنعتونه رامنځته شول؛ لکه موسیقي او سندرې، لیکلوالي او مرزایي، ژباړه، او د کورونو مسلکي ترتیب او تنظیم هغه څه چې موږ یې اوس د داخلي ډیکور په نوم پیژنو.

د دې بالکل برعکس، صنعتونه د یو دولت د زوال نږدې کېدلو د شاخص په توګه هم پیژندل کیږي. ابن خلدون په دې باور دی چې د صنعتونو کمښت او د هغوی د کیفیت ټیټوالی د بازار د تقاضا د کمېدو شاخصونه دي، او کله چې په بازار کې د مصنوعاتو تقاضا کمه شي نو د دې معنا دا ده چې موږ د دولت د زوال پیل ته رسیدلي یو.

**په عربي-اسلامي تمدن کې صنعتکاران ولې غیر عرب وو؟**

د ابن خلدون د وینا سره سم د دې لامل دا وو چې عربان په اصل کې کلیوال خلک دي چې کوچیانی طبیعت لري. د دې طبیعت یوه ځانګړتیا دا ده چې دوی د بنسټیزو خوړو د تامینولو لپاره په څارویو تکیه کوي. دلته د ابن خلدون موخه اوسني عربان نه، بلکې هغه عربان دي چې تمدن یې رامنځته کړی وو. اوسنیو عربانو له هغو فارسیانو او نورو ملتونو څخه صنعتونه زده کړل چې اسلام یې قبول کړی وو یا په سیمه کې له دوی سره یوځای اوسیدل.

**له یو څخه د زیاتو صنعتونو ماهر د ابن خلدون په قاموس کې نشته:**

ابن خلدون په دې ټینګار کوي چې که یو کسبګر په یو صنعت کې بشپړ مهارت تر لاسه کړي، نو هغه بیا په بل صنعت کې داسې مهارت نه شي ترلاسه کولی چې په یو وخت په دواړو صنعتونو کې بشپړ مهارت ولري. ابن خلدون د دې لامل دا ګڼي چې په صنعت کې د یو مهارت کسب کول داسې دي لکه دا چې د نفس د صفاتو څخه یو صفت وګرځي، او داسې دی لکه د انسان روح چې د دې په رنګ باندې رنګ شي، او کله چې روح د یو صنعت په مهارت باندې رنګ شي نو هغه بیا بل رنګ نه قبلوي. همدا راز چې په یو صنعت کې بشپړ مهارت تر لاسه کړي بیا په بل صنعت کې مهارت قبلول ورته ډیر ګران شي، په یو صنعت کې د مهارت د تر لاسه کولو وروسته په بل صنعت کې مهارت تر لاسه کول ابن خلدون ته د فطرت سره مخالفت او ټکر ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو وخت کې په دوو هنرونو کې د مهارت په ترلاسه کولو کې د ناتوانۍ څخه د ابن خلدون موخه دا ده چې په دوه صنعتونو کې بشپړ مهارت او په دقت سره هغه دواړه ترسره کولی نه شي (یعنې سطحي مهارت په ډېرو صنعتونو کې هم تر لاسه کېدلی شي).

**د ابن خلدون له نظره بنسټیز صنعتونه:**

دا باید درک کړو چې زموږ په عصر او د ابن خلدون په عصر کې ډېر توپیرونه شتون لري. ابن خلدون په دې باور وو چې بنسټیز صنعتونه هغو صنعتونو ته ویل کېږي چې له هغوی پرته تمدن او وداني نشي رامنځته کېدلی، دا صنعتونه د موضوعاتو له پلوه شرف لري، او دا ډول خدمات وړاندې کول د انسان عقل او فکر ته ګټه رسوي.

د بنسټیزو صنعتونو د دې تعریف په رڼا کې ابن خلدون لاندې صنعتونه په خپله مقدمه کې د بنسټیزو صنعتونو په توګه په ګوته کړي دي: کرنه او مالداري، ساختماني، ترکاڼي، اوبدل او ګنډل، د زېږونې طب په ځانګړې توګه په زیږون کې د مور او ماشوم خوندیتوب، عمومي طب، مرزاتوب او لیکوالي، د طباعت صنعت (اوس خپرنځایونه او مطبعې) - د متوازن شعر او ښکلې کلمو سره د سندرو ویلو په څېر صنعتونه په دې کې شامل دي.

**هر صنعت د صنعتکار ذهن ته شکل ورکوي:**

د ابن خلدون نظر دا دی چې د یو کار بیا بیا تکرار او په هغه یو کار کې په پرلپسې توګه بوختیا په پیل کې په ترلاسه شوو علومو او په هغه صنعت کې تطبیق کېدونکو قوانینو باندې اغیزه کوي. له هغې وروسته، بیا هغه علم او د هغه قوانین د عقل په بیا تشکیل قوي اغېز اچوي، تر دې چې عقل د هغه صنعت کسب سره سم عیار او جوړ شي چې د ځان لپاره یې غوره کړی دی.

ابن خلدون په دې باور وو چې د بیلګې په توګه یو لیکوال او مرزا په خپل عادي ژوند کې (د هغه د صنعت او کسب د چاپېریال څخه بهر) د مختلفو او متنوعو موضوعاتو په اړه په تفکیر کې مشغول وي (ځکه همدا یې د کسب او صنعت طبیعت او غوښتنه ده)، همدا راز یو محاسب هر وخت د شمېرو په اړه د دقت څخه کار اخلي (سره له دې چې د هغه د کار د چاپېریال څخه بهر هم وي) او همېشه غواړي چې شیان له یو بل سره پرتله او استدلال یې خوښېږي (ځکه د محاسبې د صنعت او شغل په پایله کې یې ذهن او عقل همداسې روزل شوی او عیار شوی دی).

**یادونه:** موږ په دې باب کې د ځینو فصلونو لنډیزونه شامل کړي نه دي، ځکه چې هغوی د سوداګرۍ او اقتصاد پخوانۍ بڼې سره تړاو درلود، یا دا چې هغه معلومات په ورځني ژوند کې د مسلماتو په توګه کارول کېږي، چې په اړه یې د دې لنډیز له لارې ستاسې معلومات زیاتولی نه شو. موږ باید دا هم په یاد ولرو چې ابن خلدون د خپلې ټولنیزې فلسفې سربېره یو تاریخ پوه هم دی، نو موږ هڅه کړې چې د دې فصل په لنډیز کې تاریخي اړخ د امکان تر بریده کم کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم باب: علوم او ډولونه يې

په دې باب کې لاندې افکار او تصورات شامل دي:

**زده کړه او پوهه انسان له نورو حيواناتو څخه ځانگړی کوي:**

انسان له ځارويو سره په حرکت، احساس او د خوړو په طريقه کې ورته والی لري، خو هغه څه چې انسان ته له دې مخلوقاتو توپير ورکوي؛ هغه فکر دی. فکر هغه ځواک دی چې انسان ته د دې توان ور بخښي چې موضوعاتو ته له يو بل سره تړاو ورکړي (يعنې استدلال وکړای شي). د همدې پر بنسټ دين مني او همدا فکر دی چې انسان ته د گټورو او زيان رسوونکو شيانو د ادراک او پېژندلو توان ورکوي.

د همدې فکر د استعمال په پايله کې هغه علم رامنځته کيږي چې انسان ته د نورو مخلوقاتو څخه ښتينی توپير ور په برخه کوي. فکر په خپل ذات کې هيڅ کومه گټه نه لري ترڅو يې چې په پايله کې هغه علوم رامنځته نه شي، چې په پايله کې يې صنعتونه رامنځته کيږي. د دې په رڼا کې، د نړۍ په آبادۍ کې د انسان رول روښانه کيږي، او هغه خپلو وړتياوو ته د دوامداره پرمختگ ورکولو له لارې له نورو څخه توپير او ځانگړتيا تر لاسه کوي.

**د علم او صنعت پرمختگ په مستقيم ډول له تمدن سره تړاو لري:**

علم په مستقيم ډول له صنعت سره تړاو لري، او نورو ته د علم تدريس کول هم د صنعت يوه بڼه ده. د تمدن د پرمختگ يو اړخ هم د صنعتونو او همدارنگه د علومو پراختيا ده. د دې علومو کيفيت او د تدريس ميتودونه يې، د صنعتونو کيفيت، په دوی کې مهارت او د دې صنعتونو پراختيا د يو دولت او په هغه کې د موجود تمدن د ځواک يو مستقيم شاخص دی.

**د علومو ډولونه:**

ابن خلدون علوم په دوو کټگوريو ويشلي دي: لومړۍ کټگوري د طبيعي علومو کټگوري ده، دا هغه علوم دي چې انسان د خپل فکر او عقل د استعمل په پايله کې  ورته رسيږي، لکه فلسفي علوم او د حکمت او عقل د کارولو په پايله کې ترلاسه شوي علوم.

دويمه کټگوري د نقلي علومو کټگوري ده، دا هغه علوم دي چې د هغو کسانو څخه اخيستل کېږي چې مخکې د هغوی له لورې کشف او اختراع شوي وي. په دې علومو کې په ټوله کې د عقل پرځای په نقل باندې تکيه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن خلدون په خپله مقدمه کې د نورو علومو سربېره د یو شمیر علومو لکه د قرآن علوم، تفسیر، حدیث، فقه او د هغې اصول، طب، منطق، انجینری او کرنې څخه یادونه کړې ده.

**د دې خبرې وضاحت چې انسان په فطري توګه ټولنیز موجود دی.**

ابن خلدون د دې مشهورې خبرې معنا په دې ډول تشریح کړې ده چې انسان یوازې ژوند نه شي کولی که څه هم هر څومره هڅه وکړي، او د هغه وجود یوازې د خپلو همجنس انسانانو سره د ګډ ژوند په پایله کې بشپړ دی، ځکه چې هغه نه شي کولی د ژوند ټولې اړتیاوې په یوازې ځان پوره کړي.

ابن خلدون وروسته وایي چې د دې مدنیت او ټولنیز ژوند غوښتنه دا ده چې د انساني جنس د افرادو ترمنځ باید همکاري او یو بل سره د مرستې اړیکې شتون ولري، ترڅو وتوانېږي د ځان لپاره خواړه برابر، آبادي رامنځته او د امنیت او روغتیا اړوند موضوعاتو په اړه ډاډ ترلاسه کړي (کله چې د انسانانو ترمنځ همکاري او مرسته وي نو دا کارونه کولی شي، که دا اړیکې او مرسته نه وي نو بیا دا موخې نه ترلاسه کېږي). د انسان همدا ټولنیز طبیعت (مدني طبیعت) هغه څه دي چې د افرادو ترمنځ دوستي او دښمني او د هیوادونو او قبیلو ترمنځ جګړې او سوله رامنځته کوي.

**د انسان د کمال له شرطونو څخه یو د زده کړې او پوهې ترلاسه کول دي:**

ابن خلدون په دې باور دی چې انسان د خالي ذهن سره دنیا ته راځي چې هیڅ شی په کې نه وي، او بیا یې خلقت او انسانیت په مختلفو لارو د علومو د ترلاسه کولو په پایله کې تکامل ته رسېږي. هغه د دې باور لپاره د ثبوت په توګه د قران کریم دا آیت کریمه وړاندې کوي، چې الله تعالی په کې فرمایي: "اقرأ باسم ربك الذي خلق، خلق الإنسان من علق، اقرأ وربَّكَ الأكرم، الذي علم بالقلم، علم الإنسان ما لم يعلم". ابن خلدون وایي چې د دې ایت څخه څرګندېږي چې انسان د خپل ولادت پر مهال هیڅ ډول پوهه نه درلوده.

د ابن خلدون خبرې په ځانګړې ډول د اسلامي عقیدې سره مناسبې ښکاري، ځکه چې د انسان د پیدایښت موخه عبادت او د ځمکې آبادي ده چې دا هغه موضوعات دي چې له پوهې څخه پرته ترلاسه کېدلی نه شي که څه هم هغه نقلي پوهه وي او که عقلي. له دې څخه څرګندېږي چې ابن خلدون سره له دې چې یو نړیوال شخصیت او د نړۍ په کچه یو مفکر دی خو د دې ټولو سره سره د هغه د ټولو افکارو او اجتهادونو سرچینه او سند د اسلام څخه وو.

**د فلسفې په اړه د ابن خلدون دریځ:**

که څه هم ابن خلدون په مقدمه کې یو عنوان راوړی دی چې هغه په بشپړ ډول د فلسفې ردولو ته اشاره کوي، عنوان داسې دی: "في إبطال الفلسفة وفساد منتحليها" (د فلسفې بطلان او دې ته د منسوبو خلکو فساد). خو کله چې د فلسفې د کمزورو ټکو یادونه کوي هلته یې د فلسفې ځینې مثبت اړخونه هم یاد کړي دي او د فلسفې د کارونې اړتیا ته یې اشاره کړې ده، او په دې توګه یې د فلسفې د اهمیت د درک کولو له امله تنازل کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن خلدون په دې باور وو چې د فلسفې مستقیمه ستونزه د دین سره د هغې ټکر دی، ځکه فلسفه په داسې وجودي موضوعاتو باندې بحث کوي، چې په روښانه توګه اسماني ادیانو کې موږ سره شتون لري. پر همدې بنسټ په هغو موضوعاتو کې عقلي استدلال نه مني چې مادي نه دي، او زموږ د حواسو په دایره کې نه راځي، ځکه په داسې موضوعاتو کې د عقل پایله هیڅ ډول قاطعیت نه لري، ځکه په دې موضوعاتو کې عقل یو تایید شوی ځواب نه شي وړاندې کولی، نو کېدلی شي چې د عقل ځواب د هغو حقایقو سره په ټکر کې واقع شي چې په قرآن او سنتو کې راغلي دي، نو د ابن خلدون له نظره په هغو موضوعاتو کې د څېړنې اړتیا څه ده چې په دین کې یې څرګند ځوابونه شتون لري، له همدې امله د هغه له نظره د فلسفې څخه باید ځان وساتل شي.

خو په ورته وخت کې ابن خلدون د فلسفې په اړه عادلانه دریځ غوره کړ، ځکه هغه فلسفه له دې پلوه ستایلې ده چې د ذهن د تیزولو، د افکارو په ترتیبولو او د دلایلو په تنظیمولو کې ګټه رسوي. همدا راز د ابن خلدون له نظره د فلسفې د میتودونو کارول موږ سره مرسته کوي چې د خپلې ادعا د اثبات لپاره داسې دلایل وړاندې کړو چې صحیح هم وي او څوک ورسره اختلاف هم ونه کړای شي. د همدې ګټو له امله ابن خلدون د فلسفې په موضوعاتو فکر، د فلسفې لوستل او د هغې موضوعات مناقشه کول جایز ګڼي، خو په دې شرط چې د هغو موضوعاتو په اړه جدي پاملرنه وکړو چې په فلسفه کې زموږ د شریعت سره په ټکر کې دي.

**د ابن خلدون تر ټولو لویه تیروتنه:**

د ابن خلدون په مقدمه کې د کیمیا په اړه د هغه له دریځ څخه پرته هرڅه ډېر ښه دي. شاید د هر نوي علم سره د طبیعي دښمنۍ د فشار له امله، هغه د کیمیا او خیمیا (پخوانۍ کیمیا چې عادي فلز په کې سرو زرو ته بدلول یې موخه وه) تر منځ په توپیر قایل نه دی.

هغه د جابر بن حیان او ابن سینا کار (چې د کیمیا علمي او واقعي کار وو) د نورو هغو خلکو د کارونو (چې هیڅ علمي بنېه یې نه درلوده) سره ګډ کړل چې ادعا یې کوله دوی کولی شي ماده په سرو زرو او داسې نورو بدله کړي.

ابن خلدون په څرګنده توګه دا رد کړي دي چې یا دې د دې علم (کیمیا) د بریالیتوب امکان یا د ګټورو موخو لپاره د هغې د کارونې احتمال شتون ولري. هغه د دې علم لرونکي په جادو یا داسې نورو تورونو تورنول، او د دې ټولو لامل دا وو چې ابن خلدون په خپله د دې علم په اړه معلومات نه درلودل، او نه په دې پوهېده چې دا څرنګه کار کوي. د کیمیا د علم پر وړاندې دا دریځ د ابن خلدون یوه څرګنده تېروتنه ده، ځکه چې کیمیا اوس په مستقیم ډول د ډېرو بېلابېلو علمي لاسته راوړنو او په ځانګړې توګه په طبي ډګر کې د لاسته راوړنو بنسټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ډېرو کتابونو لیکل یوه ښه او سالمه پدیده نه ده:**

ابن خلدون په دې باور وو چې د ډېرو علمي لیکنو او د ډېرو کتابونو شتون د خلکو لپاره د علم ترلاسه کول ستونزمنوي. د زیاتو علمي لیکنو خپرېدل د ډېرو اصطلاحاتو، میتودونو او باورونو د رامنځته کېدو لامل گرځي، چې په دې ټولو باندې پوهېدل او زده کول د یو زده کوونکي لپاره ډېر ستونزمن کار دی.

په کتابونو کې دومره تنوع او زیاتوالی د دې لامل کېږي چې ډېری زده کوونکي د یو علم اړینو او مهمو مباحثو ترمنځ توپیر و نه کړای شي، او د کم اهمیت لرونکو مباحثو د یادولو په پایله کې ترې مهم مباحث پاتې شي، له همدې امله ابن خلدون په څرگند ډول د دې غوښتنه کوي د هر علم تعلیم باید په هغو قضیو ولاړ وي چې هغه په کې بنسټیز حیثیت لري، او بیا وروسته دې هر زده کوونکی د خپل کوښښ او څېړنو په پایله کې دې د اړوند علم په نورو موضوعاتو کې پراخه علم تر لاسه کړي، او یا کومو موضوعاتو ته چې اړتیا پیدا کوي هغه دې بیا په هماغه وخت کې لولي.

**د تدریس لپاره په لیکلو شوو متونو کې د لنډیز په اړه د ابن خلدون دریځ:**

ابن خلدون په دې باور وو چې په بېلابېلو علومو کې په لیکل شـــوو متونو کې د لنډوالي او په ډېره مکثفه ژبه (چې ډېرې معناگانې په لږو عبارتونو کې ځای پر ځای کړی شي) د متنونو لیکل یوه ناسـمه پدیده ده. هغه په دې باور وو چې لنډ متنونه په هغوی باندې د پوهیدو ســـتونزه رامنځته کوي، همدا راز زده کوونکو ته په مرتب ډول د افکارو په رسـولو کې هم سـتونزه رامنځته کوي، یعنې په زده کړه کې زده کوونکي ته افکار باید په تراکمي ډول ولیږدول شي. لومړی هغه معلومات ورته ولیږدول شي چې د نورو لپاره بنســـت جوړوي، خو کله چې د یو ډېر مکثف او لنډ متن له لارې ډېر معلومات په یو ځل زده کوونکي ته ولیږدول شي نو په دې کې د افکارو د انتقال ترتیب هم نه شي مراعت کېدلی. کېدلی شي د ابن خلدون د دې نظر په اړه د تبصرـې په توگه ووایو چې د هغه خبره په هغه حالت کې سـمه ده چې لیکنه د تعلیمي او تدریسيـ موخو لپاره وي (په دې حالت کې باید مکثف او ډېره مختصره نه وي)، خو که د عامو فرهنگي موضـــوعاتو او معلوماتو لپاره څوک لیکنه کوي نو بیا غوره دا ده چې دا لیکنه مختصرـــه او لنډه وي، ځکه په دې برخو کې د لیکنو لنډوالی لوستونکي په رواني توگه لوستلو ته هڅوي، ځکه چې د ۱۰۰ پاڼو لوستل یقینا د ۱۰۰۰ پاڼو له لوستلو څخه ډېر هڅوونکي ښکاري.

**په زده کوونکو د سختۍ په اړه د ابن خلدون دریځ:**

ابن خلدون په زده کوونکو باندې سختي (د هغوی وهل ټکول) په بشپړه توگه ردوي، له دې څخه څرگندېږي چې په زده کوونکو باندې د سختۍ (وهلو او ټکولو) کوم حالت اوس زموږ په هېوادونو کې شتون لري؛ د ابن خلدون په زمانه کې نه وو، همدا راز د ابن خلدون زمانه په نورو ډېرو شیانو کې زموږ له زمانې څخه غوره وو. د ابن خلدون تصور دا دی چې د سختۍ په پایله کې زده کوونکي د مظلومیت احساس کوي، او په رواني توگه د بد حالت سره مخ کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دې په پایله کې د هغه فعالیت را کمېږي، او له هغه څخه یو سست انسان جوړېږي. همدا راز، دا سختي او وهل ټکول یو زده کوونکی په یو درواغجن انسان بدلوي، او د سزا او وهلو ټکولو څخه د خلاصون لپاره همېشه خبیثې او ناروا لارې چارې ولټوي.

ابن خلدون په دې باور دی چې همدا حالت په بشپړه توګه په ملتونو باندې هم د تطبیق وړ دی، څکه هغه ملتونه چې له ظلم سره مخ دي د دوکې او خباثت او شیطانت کچه په کې لوړېږي. هغه په دې باور دی چې د تاریخ په مختلفو دورو کې د ظلم سره د یهودانو مخ کېدل د دې لامل شو چې په دوی کې همدا ډول د خباثت او مکر صفتونه رامنځته شي چې ټول خلک یې په یهودو کې په شتون اتفاق لري.

**زموږ د ژبنۍ کچې د پراختیا په اړه د ابن خلدون نظر:**

ابن خلدون زموږ د ژبې د قوت، غښتلتیا او پراختیا لپاره سمه لاره په لنډه توګه بیان کړې ده او ویلي یې دي چې موږ باید د لوړ کیفیت لرونکو ادبي او ژبني عبارتونو لوی شمیر یاد کړو. همدارنګه، دا هم غوره ده چې دا عبارتونه تکرار کړو، ښه پرې پوه شو، او په خپلو لیکنو کې یې وکاروو.

په دې ځای کې موږ ویلی شو چې لوستل د لوستونکي د ژبنۍ کچې د پراختیا لپاره یوه مهمه وسیله ده. له همدې امله، هرڅوک چې د غوره ژبې په لټه کې وي، باید په غوره ژبه لیکل شوي غوره کتابونه ولولي او یاد کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**يادونه:** په دې باب کې د علومو د مختلفو ډولونو اوږده تشريح شوې نه ده، چې مونږ د لوستونکي لپاره پرته له دې چې په يو کې تخصص ولري يا غواړي په راتلونکي کې په کې تخصص ولري، د هغې د تفصيل هيڅ ګټه نه وينو. د دې لپاره چې د ګران لوستونکي لپاره په کمو پاڼو کې د زياتې ممکنې ګټې څخه ډاډ ترلاسه کړو، د هغې يادونه کافي وه. د هغو کسانو لپاره چې غواړي د دې علومو جزئيات وپيژني، بايد د ګوګل لټون انجن وکاروي او دوی به هغه څه وموmي چې زموږ د عالي فيلسوف له لورې د ذکر شوو په پرتله خورا زيات او مفصل دي.

په دې باب کې د عربي ژبې د پرمختګ په اړه تفصيلي وضاحت هم شامل دی، چې يوازې د هغو کسانو لپاره چې په ژبپوهنه او د عربي ژبې د پرمختګ په برخه کې تخصص لري، په زړه پورې دی. له همدې امله، هر هغه څوک چې په دې موضوعاتو کې ليوالتيا لري بايد د ابن خلدون مقدمه پرانيزي او د دې موضوع تاريخ ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایله

د خدای شکر دی چې موږ سره یې مرسته وکړه او موږ ته یې ځواک راکړ چې د دې ارزښتناک عربي اثر لنډیز ولیکو. زموږ موخه، لکه څرنګه چې په ډیرو مواردو کې مو تکرار کړې ده، دا ده چې په مقدمه کې خورا مهم ټکي هغه لوستونکو ته ورسوو چې په دې برخه کې متخصص نه دي، ترڅو د دې مقدمې په ارزښت پوه شي چې له مخې یې ټوله نړۍ ابن خلدون د بشریت په تاریخ کې یو له غوره تاریخ پوهانو څخه ګڼي.

موږ یوازې دا هیله لرو چې دا کار به په رښتینې توګه د خلکو لپاره ګټور وي، او عرب لوستونکي به وکولی شي له دې څخه ګټې ترلاسه کړي او هغه کسانو ته یې په شفاهي یا لیکلي ډول ورسوي چې دوی یې پیژني، ترڅو ګټه خپره شي او فکر وده وکړي. هغه څه ته چې موږ ټول د عربي ملت بیرته مخکښ کیدو لپاره اړتیا لرو، یو سالم کلتور او د فکر کولو لاره ده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**